# Pakhtoonkhwa پښتونخوا




## دپښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند خپرونه

## ۲۹ مه ګڼه 2007 کال

Jahrg./vol: 21. nummer/ no: 29

## PASCHTUNCHWA / PASHTOONKHWA

ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN
PARTEI DER PASCHTUNEN

ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY (PSDP)

www.pashtoonkhwa.com
pashtoonkhwa@gmail.com
psdp@gmx.net





## لړلیک


| سرلیک | لیکوال | مخګڼه |
|---|---|---|
| د اروابناد کبیر ستوري لنډه پېژندنه | لایق زاده لایق | ۱ |
| د افغان ولسمشر د خواشینۍ پیغام | | ۹ |
| د خواشینۍ پیغامونه | | ۹ |
| په کابل، امریکا او جرمني کې د اروابناد ستوري فاتحه واخیستل شوه | | ۲۴ |
| په پېښور کې د کبیر ستوري او قمر زمان طایزي په یاد غونډه | | ۲۷ |
| په خاص کونړ کې د کبیر ستوري په یاد غونډه | | ۲۸ |
| شعر | ډاکتر احمد علي عاجز | ۳۰ |
| شعر | ببرك دقیق شفیق | ۳۰ |
| د ډاکتر ستوري د لومړي تلین کلیزه په کونړ ولایت کې ونمانځل شوه | | ۳۱ |
| د غمرازۍ له کتاب څخه | | ۳۴ |
| په پېښور کې د اروابناد کبیر ستوري د لومړي تلین یاد غونډه | | ۶۶ |
| د اروابناد ستوري د لیکونو له منځه یو څو لیکونه | | ۷۰ |
| ستوری فنا شو (شعر) | لایق زاده لایق | ۷۷ |
| شعر | عرفان الله کوتوال | ۷۸ |


خپروونکي: د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند پښتونخوا/ افغانستان

Herausgeber: Sozialdemokratische Partei der Paschtunen
Pashtunchwa/ Afghanistan
Publisher: Pashtoons Social Democratic Party (PSDP)
Pashtoonkhwa/ Afghanistan

ذمه وار
V.S.I.P
Responsible for contents
د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند
(PSDP)
KIEBITZWEG 12
50389 Wesseling
Germany
Tel.: 0049 2236 3190445
Fax: 0049-2236/841930
E-mail: psdp@gmx.net

Redaktion:
Editorial Board:
Gul Ghutai Kunarai
Ali Khan Mahsood
Hidayat Bangash
Mabariz Zapi
Aziz Sarshar
Haji Nasir Stori

د خپروني جرګه:
ګل غوټۍ کونړۍ
علي خان محسود
هدایت بنګښ
مبارز ځاپی
عزیز سرشار
حاجي نصیر ستوری

E-mail: psdp@gmx.net

Redaktion: Editorial Board:
Gul Ghutai Kunarai
Ali Khan Mahsood (Maseed)
Hidayat Bangash
Mabariz Zapi
Aziz Sarshar
Nasir Stori

# د اروابناد ستوري لنډه پېژندنه

لایق زاده لایق

ډاکتر کبیر ستوری د لعل محمد خان زوی او د مېرزا محمد جان لمسی و، چې په ۱۹۴۲ ز کال (۱۳۲۱هـ ش) د کونړ ولایت د خاص کونړ ولسوالۍ د تنر په کلي کې زېږېدلی دی. د هغه نیکه میرزا محمد جان د خپل علم او پوهې په اساس په ټوله منطقه کې شهرت درلود. دا هغه دور و، چې په دغه سیمه کې ژوند د وخت د رفتار نه ډېر وروسته پاتې و، مګر مېرزا محمد جان له وخت او حالاتو څخه باخبره او پوه مشر و، هغه د اولسي ښېګړې د کارونو نه علاوه د خپلې کورنۍ مشري هم کوله. دا کورنۍ په هڅ پښتانه او په ټبر (قوم) میردادخېل دي، چې په وروستي پشتونو کې د یوسفزیو له پرګنې سره تړل کېږي.

د کونړ دغه یوسفزیو ډېر پخوا د سوات او مردان له سیمو څخه دلته راغلي و او بیا په بېلابېلو سیمو کې مېشت او آباد شوي دي.

د یوسفزو ترڅنګه په کونړ کې ساپي، مومند او نور ډېر قومونه هم ژوند کوي، څوك چې لکه د یوسفزیو په لر و بر کې خپلې خورې ورې څانګې لري.

ستوری د شپږو خوېندو او دوو وروڼو نازولی ورور و. د هغه مشر ورور وکیل عبدالجلیل ملنګ او کشر ورور یې محمد نعیم خان نومېږي، چې پخپله سیمه کې ورته پوره نوم او شهرت حاصل دی.

**لومړۍ زده کړه:**

کله چې ستوری د کور له دروازې څخه بیرون قدم کېښود. نو د ښوونځي دروازه یې ولیده، هغه د خپلې ولسوالۍ (خاص کونړ) په لومړني ښوونځي کې داخل کړی شو. د وړوکوالي نه د هغه له کتابونو سره مینه وه، دیني علوم یې هم د خپل کلي له ملا امام (فیض محمد استاد) څخه زده کول او همدغه نتیجه وه، چې هر کال به په خپلو همزولو کې څو ګامه وړاندې وو. د هغه استاذان (ښوونکي) چې به کله په دې پوهېدل، چې دا ماشوم د نورو نه زیت لایقه او زیرك دی، نو ځانګړې توجه به یې ورکوله او





بیا هغه ورځ هم راغله، چې ښاغلی ستوری د خپل کلي د ښوونځي نه په ښو او لوړو نمبرو فارغ شو او د نورو زده کړو لپاره یې د کابل مخه وکړه.

په کابل کې ښاغلي کبیر ستوري د رحمن بابا په عالي لېسه کې داخله واخیسته. د هغه د ذهن په دنیاګۍ کې چټك پرمختګ او پراختیا وده کوله، چې د رحمان بابا په لېسه کې د افغانستان د بېلابېلو سیمو نه پښتانه هلکان داخلېدل. دغه وخت په ټول کابل کې د پښتنو لپاره یوازې دوه لېسې وې، چې یوه یې د رحمان بابا لېسه او بله یې د خوشال خان عالي لېسه وه، چې قبایلي پښتنو به هم پکې زده کړه کوله.

ستوری په دې شپو ورځو کې شاعري هم پیل کړه، خو دغه شاعري به یې د خپل ځان او ملګرو پورې محدوده وه، د شعر په ژبه به هغوی د پښتون قام د جذبو د استازیتوب هڅې کولې، چې څنګه څنګه وخت تېرېده، ستوري ته د پښتون قام د محرومیو احساس کېده، همدغه احساس هغه په دې مجبور کړ، چې د ستر خوشال او حضرت باچا خان په نور ژور نظر مطالعه وکړي. دې مطالعې د ستوري په زړه او ذهن کې د خپل ولس او خاورې مینه لا سېوا (زیاته) کړه.

**ستوري په المان کې:**

په کال ۱۹۶۴ کې چې کله ستوری د رحمن بابا د لېسې له دولسم ټولګي څخه په ښو او لوړو نمبرو فارغ شو، نو د لوړو زده کړو لپاره یې جرمني ته د نوم انتخاب وشو، نو هماغه و، چې حکومت ستوری د لوړو زده کړو لپاره جرمني ته ولېږه. هلته یې د فرانکفورټ په پوهنتون کې د سیاسي علومو، فلسفې او ساپوهنې مطالعه پیل کړه. د زده کړې سره سره ستوري په جرمني کې د ډېرو پښتنو (افغانانو) محصلینو (پوهېدنکیو) سره خپلې رابطې او اړیکې ساتلې او وخت په وخت به یې پښتنو (افغانانو) ته په وړېښنو ستونزو خبرې او غونډې کولې. له دې سره سره به یې کله کله د ستوري په نوم شاعري هم کوله.

**ړومبی تنظیم:**

ښاغلی کبیر ستوری د افغانستان نه له ځان سره د ملي او قامي وحدت یو سوچ او د پښتنو د ترقۍ یو خوب وړی و. هم ددې سوچ ترمخه هغوی په





کال ۱۹۶۵ع کې د افغان سټوډنټس ایسوسي ایشن ( Afghan Students Association) په نوم بنیاد کېښود او په لومړي ځل باندې یې خواره واره افغان زلمي تر یو بېرغ لاندې راغونډ کړل. موږ دا ویلای شو، چې دا د ستوري وړومبی شعوري سیاسي ګام و، چې په پوره حوصله او باور یې پورته کړ.

په ۱۹۷۲ کال کې ښاغلي ستوري د یوه بل تنظیم "جنرل یونین اف افغان سټوډنټس" مشري په سر واخیسته. همدا رنګه ورځ تر ورځه د ستوري د مینانو حلقه سېوا کېده او ډلې ډلې افغانانو (پښتنو) له هغه سره رابطې پیل کړې.

**ستوري په المان غږ راډیو کې:**

که یو خوا د تنظیم سازۍ په بهیر کې ستوري د خپل سیاسي ژوند اغاز کړی و، نو بل خوا یې دا خیال و، چې د فکر د ملګرو حلقه نوره سېوا او پراخه کړي. په کال ۱۹۷۳ کې هغوی د المان غږ راډیو په پښتو څانګه کې وظیفه ترلاسه کړه او د پښتو څانګې ټولې ذمه وارۍ یې په سر واخیستې. دلته د ستوري ملاقاتونه او لیدنې له داسې بې شمېره خلکو سره وشول، چې هغه ته یې د فکر نورې لارې پرانیستې. هغه ژوند نور د نژدې نه وکتلو، هغه ته د خپل قامي وجود د نشتوالي په شدت سره احساس وشو، ځکه نو د حضرت باچا خان او اجمل خټك د افکارو مطالعه یې پیل کړه. ددې دوارو مشرانو افکارو ستوری په دې نتیجه ورسوه، چې د پښتنو د وروسته پاتې کېدو اصلي لامل او علت د هغوی بې اتفاقي ده.

**د بېل ګوند جوړول:**

د پوهنتون په شپو ورځو کې له ستوري سره د پښتنو رابطې سېوا (زیاتې) شوې وې. په دغه پښتنو کې د محصلینو نه علاوه نور سیاسي کسان هم شامل وو. ځکه نو ستوري دا ضرورت محسوسولو، چې په اروپا کې خپل ملګري راغونډ او یو داسې پلېټ فارم (تنظیم) جوړ کړي، چېرته چې لر و بر پښتنانه خپلې جرګې مرکې کولی او خپل اواز نړۍ والو ته ورسولی شي. د همدې لامل لپاره هغه له ملګرو سره رابطې پیل کړې او تر ډېر غور و فکر وروسته یې د پښتون سوشل ډیموکراټیك پارټۍ (PSDP)





بنیاد کېښود. ددې ګوند د منشور لپاره ستوري د ټولو پښتنو فکر هغه که د لر دي او که د بر، په نظر ولرو.

په پردي هېواد کې خپل ګوند جوړول څه عامه او ساده خبره نه وه، ځکه نو له ستوري سره د پښتنو رابطې زیاتې شوې.

**د پښتونخوا له قام پرستانو سره رابطې:**

د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند (پښتون سوشل ډیموکراټیك پارټۍ) د جوړولو نه پس ستوري له لرې او برې پښتونخوا له قام پرستو مشرانو سره د رابطو سلسله پیل کړه. هغه د شخصیاتو پر ځای د نظرې مرسته وکړه، ځکه نو هر پښتون مشر ته یې احترام ورکړو. کوم مشران چې پخپله جرمني ته لاړل، هغوی یې خپلو غونډو او کانفرانسونو ته راوبلل او ځینې اشخاصو ته یې د ګوند له خوا بلنې ورکړې، چې په دوی کې د محترم مشر محمد افضل خان لالا نامه په ځانګړې توګه د یادونې وړ ده، چې د (PSDP) ګوند د لومړي کنونشن لپاره جرمني ته وبلل شو. هغوی له ځان سره یو نوی سوچ جرمني ته یوړو او هغه د پښتنو قامي وحدت و، چې د پښتون سوشل ډیموکراټیك پارټۍ په عمل کې ددغه نظر لپاره قدم اېښودی و، یعنې د لرې او برې پښتونخوا پښتانه په مساوي توګه په دې ګوند کې خپلې عهدې او برخه درلوده.

**تخلیقي یون او سیاسي زیار:**

له دې هرڅه سره سره د ښاغلي کبیر ستوري د شعر د لیکلو سلسله هم روانه وه، هغه یو عملي مبارز و او په هر اړخ یې د پښتونولۍ غږ خورول غوښتل، په خپله ټوله شاعرۍ کې یې د پښتون قام غم ژړلی.

د وختونو د ترتیب مطابق د ښاغلي ستوري ادبي او سیاسي زیار ته موږ داسې کتلی شو:

په حیث د باني او مشر:

۱۹۶۵ کال: افغان سټوډنټس ایسوسي ایشن، فرانکفورټ (د افغاني محصلینو ټولنه)

۱۹۷۲ کال: جنرل یونین اف افغان سټوډنټس، فرانکفورټ (د پښتنو او بلوڅو د آزادۍ ټولنه)

۱۹۷۶ کال: نیشنل لیبریشن یونین اف پښتون اینډ بلوچ، فرانکفورټ
۱۹۸۵ کال: پښتون کلچرل ایسوسي ایشن د پښتنو کلتوري ټولنه جرمني
۱۹۹۳ کال: پښتون کور، جرمني
۱۹۹۸ کال: د پښتونخوا د پوهنې ډېره، پېښور
۲۰۰۳ کال: پښتو ادبي هنري ټولنه، کونړ

* * *

***د مجلو او خپرونو سرمشري:***

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۹۷۲ کال: | سپرغۍ | میاشتنۍ | (جرمني) |
| ۱۹۷۶ کال: | اولس غږ | میاشتنۍ | (جرمني) |
| ۱۹۸۵ کال: | لمبه | میاشتنۍ | (جرمني) |
| ۱۹۸۶ کال | د خیبر وږمه | میاشتنۍ | (جرمني) |
| ۱۹۸۶ کال | پښتونخوا | مهالنۍ | (جرمني) |

* * *

**د ښاغلي ستوري لیکلي کتابونه:**

۱_ سکروټه : (شعري ټولګه) کال ۱۹۷۶، جرمني
۲_ پښتونخوا: (د مضامینو ټولګه) کال ۱۹۷۷، جرمني
۳_ وېره: (یوه علمي او نفسیاتي څېړنه) کال ۱۹۸۵_۱۹۹۰ جرمني، ۲۰۰۱ پېښور
۴_ د هوښیارتیا د کلتوري ښو تله (علمي او نفسیاتي څېړنه) کال ۱۹۸۵ جرمني.
۵_ د وېرې تله (ساپوهنه) کال ۱۹۸۵، جرمني
۶_ ژوندي خیالونه (شعري ټولګه) کال ۱۹۹۷ (پېښور، پښتونخوا
۷_ د قلم توره: کال ۱۹۹۹ ، پېښور، پښتونخوا
۸_ د هوښیارتیا تله (ساپوهنه) کال ۲۰۰۰، پېښور، پښتونخوا
۹_ ژبساپوهنه (ساپوهنه) کال ۲۰۰۰، پېښور، پښتونخوا
۱۰_ سندریز پېغام (شعري ټولګه) کال ۲۰۰۲، پېښور، پښتونخوا
۱۱_ د هوښیارتیا کلتوري بې پلوه تله (ساپوهنه) کال ۲۰۰۴، پېښور، پښتونخوا
۱۲_ د پیداېښتي ښو د هوښیارتیا تله (ساپوهنه) کال ۲۰۰۴، پېښور، پښتونخوا





۱۳_ خوږې مسرۍ (شعري ټولګه) کال ۲۰۰۶ (د ستوري صیب وفات نه څو ورځې وروسته چاپ شو).
۱۴_ خوب مانا (ساپوهنه) د چاپ لاندې

* * *

***ربړې او ستونزې:***

تاریخ ګواه دی، چې کوم خلک د خپل قام د سوکالۍ او ترقۍ لپاره ګامونه اخلي، نو د هغوی مخ ته خنډونه خامخا راځي. په نږدې دور کې د حضرت باچا خان ژوند زموږ لپاره ښه بېلګه ده، چا چې د ژوند ډېره برخه په جېل کې په دې ګناه تېره کړه، چې هغه د پښتون قام د حق خبره کوله. ښاغلی ډاکټر کبیر ستوری هم ددغه لوی او عظیم قامي مبارز باچا خان د لارې سپاهي و، څکه نو ورته د ډېرو قوتونو سترګې وې. هغه چې کله په ۱۹۸۲ کې پېښور ته د خپلې کورنۍ او ملګرو د لیدلو په غرض راغی، نو لکه د نورو قامي مشرانو ګرفتار کړی شو او جېل ته ولېږل شو او تقریباً اتلس میاشتې قید یې د پاکستان په بېلابېلو جېلونو کې تېر کړ.

همدغه قید ستوري ته اصل حقیقتونه په ګوته کړل، هغه له قام پرستو مشرانو سره له نږدې نه لیده کاته وکړه او په دې پوه شو، چې حقونه د قربانۍ نه پرته لاس ته نه شي راوړل کېدی. د جېل دغه شپې ورځې به ستوري تل یادولې، څکه چې که چېرې هغه د قام د خدمت په بدل کې زندان (بندي خانه) نه وی لیدلی، نو ستوري به د ژوند له سختو څخه ناخبره و، نو همدغه ستونزې او کړاوونه وو، چې ستوري ته یې نوره حوصله ورکړه او د قام او ملت خدمت ته یې په ډاګه ملا وتړله.

***ځانګړی (شخصي) ژوند:***

ستوري په خپل ذاتي (شخصي) ژوند کې د ډېر ساده مزاج خاوند و، له انسانیت سره مینه د هغه شعار و، په علم او پوهه یې کلک باور درلود، نو څکه یې د پښتنو ترقي او پرمختګ یوازې د علم او پوهې په حاصلولو کې لیده. له هر چا سره به یې په نرمه او خوږه لهجه خبرې کولې. هر چا چې به ورسره لیده کاته کول، د ستوري له خبرو څخه به یې خوند اخیسته. داسې





پښتانه به ډېر کم وي، چې ستوری صیب یې په ژوند لیدلی وي او د هغه د ښو اخلاقو اعتراف به یې نه وي کړي. هغه د پینځو زامنو (بصیر ستوری، نصیر ستوری، امیر کروړ ستوری، نسیم خان ستوری او ایمل ستوری) او دوو لوڼو پلار و، خو له دوی ټولو سره یې تعلق ډېر دوستانه او د خوند و. هغه به عموماً غوسه ډېره کمه کوله، خو چې کله به یې خپه شو، نو بیا به یې په خپلو اصولو کله هم سمجهوته (سودا بازي) نه کوله، سپینې خبرې به یې کولې او هېڅ خبره به یې پټ او پناه نه کوله. له دروغو او غیبت څخه یې ډېره کرکه کوله، هغه په خپله وینا کې ډېر رېښتینی و او د خپلو ملګرو د زړونو د ساتنې لپاره به یې کله هم د چل ول نه کار نه اخیسته. ښه لباس او ښه خوراك د ستوري کمزوري وه، د یو خاص او ځانګړي مزاج څښتن و، هر څه چې به یې خوښ شولو هغه شی به یې اخیسته. هغه به ویل چې د سبا هېڅ پته نه لګي، په کار ده چې موږ له وخت سره یوځای رفتار وکړو او د ژوند نه هم نن خوند واخلو. هغه کله هم د پېسو د ګټلو او ذخیره کولو هڅه نه ده کړې. په مجموعي توګه ښاغلی کبیر ستوری یو پیاوړی نرم مزاجه او دروند پښتون و، څکه نو ورته پښتنو په ژوند او مرګ ډېر قدر ورکړ.

***ناروغتیا او مرګ:***

د ستوري په مزاج کې ناقراري وه، ددې وجه دا وه چې هغه د پښتون قام د سوکالۍ او وحدت خوبونه لیدل، خو خوب "خوب" وي، په عمل کې هغه ته د هغه کړاوونو او ستونزو احساس و، کوم چې پښتون قام د پېړیو پېړیو ورسره مخ دی. د قام غم هغه خندا ته نه پرېښودو، نو د فکر د بدلون لپاره به یې ډېر زیات سګرټ څښل، تر دې حده چې په شپه او ورځ کې به یې څو څو ډبي تش کړل. د هغه ګوتې به سوځېدې، خو ستوري ته به یې احساس نه کېده، څکه د هغه په زړه کې دردونه و او دغه دردونو کبیر ستوری خوب ته هم نه پرېښوده. هغه چې به کله له خپلو ملګرو او دوستانو سره په مجلس کې ناست و، نو خوب به هم ترې پاتې و او په شپو شپو به یې شوګېرې کولې. د عمر په اخري کلونو کې کله چې د زړه له ناروغۍ څخه خبر شو، سګرټ یې هم پخپله پرېښوده، خو دغه لوګو د ډاکټر کبیر





ستوري په زړه کې کور کړی و. هغه د زړه ناروغ شو، څو ځله پرې د زړه دوره (حمله) راغله، خو لا یې پوره نه وه راغلې د ناروغۍ په دغه حال کې درې ځل پښتونخوا ته راغی، په پښتو علمي کنفرنس، د پښتنو په قومي جرګې، د پښتو په نړېوال کنونشن او نورو نړیوالو او مقامي غونډو او دستورو کې یې عملي ګډون وکړو، د ټولو قامي مشرانو، شاعرانو، ادیبانو او عام اولس سره یې اوږدې اوږدې مرکې وکړې. ددې دور له لویو شاعرانو رحمت شاه سایل او اجمل ختټك سره یې د زړه خبرې وچېړلې او دلته د پښتو ژبې او پښتون قام د هر خادم ځای ته لاړ او د نظر تبادله یې ورسره وکړه. ډېر کلونه پس یې د خپل کلي خاص کونړ (تنر) سیلونه هم وکړل. د ژوند په وروستۍ ورځو شپو کې هغه دومره فعالیت څرګنداوه لکه چې هغه خپل هرڅه رانغاړي، چې کله واپس جرمني ته لاړو، نو ناروغي یې زیاته شوه. په دې دوران کې څو ځل روغتون ته د علاج لپاره ورسول شو او له روغتون څخه بېرته خپل کور ته راوستی شو. څلورم اپریل کال ۲۰۰۶ د لوی او عظیم ستوري د ژوند وروستۍ شپه وه. د ژوند دغه وروستۍ شپه یې د خپل کور د غړیو او خپل ملګري او خپلوان حاجي صیب فضل الرحمن سره په خبرو شوګیر کړه، خو په څلورم اپریل دسهار پر مهال (۵) بجې د مرګ استازي د هغه د کور دروازه وټکوله او د پښتنو دغه ځلانده ستوری د تل لپاره په ابدي خوب ویده او له مداره پرېووت.

**(انا لله و انا الیه راجعون)**

ستوری مړ شو، خو مړ نه دی، د هغه نوم د هغه زیار به د قام خدمت په حواله تېول عمر یادولی شي. د هغه د شعرونو اهنګونه به هر وخت د پښتونخوا په لر و بر کې زمزمې کوي، اوس د هغوی د کشرانو او د فکر د ملګرو ذمه واري جوړېږي، چې ددغه تحریک په وړاندې بوتلو کې تر هر چا مخکې شي

**که زما ستوري په قبر چېرې راشې**
**په پښتو راته دعا کړه پرې مېن یم**

* * *

# د افغان ولسمشر حامد کرزي
# د خواشینی پېغام

د افغانستان د اسلامي دولت مشر حامد کرزي د ډاکتر کبیر ستوري په مړینه د ژورې خواشینی څرګندونه کړې.

ولسمشر په خپل یو پیغام کې چې د ۲۰۰۶ کال د اپریل په شپږمه نېټه د افغانستان د ملي راډیو تلویزیون څخه خپور شو، د خپلې خواشینی مراتب داسې څرګند کړل:

اروابناد ډاکتر کبیر ستوري د هېواد سیاسي، ملي، اجتماعي او فرهنګي شخصیت و، په پښتو ژبه یې ډېر علمي او څېړنیز کتابونه لیکلي او تل یې د هېوادوالو خدمت ته ملا تړلې وه. د هغه مړینه د هېواد لپاره ستره ضایعه ده.

زه د اروابناد لپاره مغفرت او کورنی ته یې د صبر او تسلی مراتب وړاندې کوم.

**روح دې یې ښاد وي.**

## د زلمي هېوادمل د خواشینی پېغام

پژواك خبري اژانس، ۱۶ وری ۱۳۸۵ هـ ش

د هېواد مشهور لیکوال، سیاستوال او شاعر ډاکتر کبیر ستوری په ولس او هېواد مین شخصیت و. د هېواد د ترقی، سوکالی او سولې لپاره یې نه ستړي کېدونکې هلې ځلې کړې دي. د پښتو ژبې او پښتنو لپاره یې د قدر وړ خدمت کړی. په لسګونو اثار یې د ساپوهنې او شعر په برخه کې لیکلي دي.

اروابناد ډاکتر کبیر ستوری د هېواد یو نومیالی ارواپوه و، د هغه مړینه د هېواد لپاره یوه ستره ضایعه ده او دغه تشه به تر ډېره وخته ډکه نه شي.

## د لرې او برې پښتونخوا
## یو ځلانده علمي ستوری ولوېده

په جرمني کې د ساینس پوهانو ټولنه د خدای بښلي اروابناد ډاکتر کبیر ستوري د ناڅاپي مړینې څخه خبر ترلاسه کړ او له دې کبله د زړه له کومې خپګان او ژوره خواشیني څرګندوي





انا لله و انا الیه راجعون

خدای بښلی ستوری د هېواد یو نومیالی ساینسپوه، علمي او ملي شخصیت، وطنپالونکی، د ټینګ عزم او د سپېڅلي ایمان او عقیدې خاوند و.

اروابناد د ساینس پوهنې او نورو ټولنیزو څانګو خو په تېره بیا په ساه پوهنې کې ګڼ شمېر کتابونه لیکلي دي، چې له دې لارې یې خپل ولس او د پښتو ژبې کلتور ته ستر تاریخي نه هېرېدونکي خدمتونه سرته رسولي دي. موږ د اروابناد ډاکتر ستوري مړینه یوه ستره علمي او ولسي ضایعه ګڼو.

لوی څښتن تعالی دې هغه ته ښکلي جنتونه په نصیب کړي او پاتې کورنی او خپلوانو ته د صبر او زغم غوښتنه کوو.

چــې پیدا شــوې تا ژړل خلکو خندل
داسې مړ شه چې ته خاندې خلك ژاړي

په جرمني کې د ساینس پوهانو په استازیتوب
**پوهنوال ډاکتر نظر محمد سلطانزی (خدراڼ)**
د افغانستان د اتوم انرژۍ پخوانی مسوول مشر
او د کابل پوهنتون د طبیعي علومو پوهنځي پخوانی استاد.

## د اروابناد ډاکتر کبیر ستوري
## درنې کورنی ته!

موږ د ډاکتر کبیر ستوري ناڅاپي مړینې ډېر خواشیني او ویرژلي کړو.

هغه خپله ټوله خواني د لر بر تس نس پښتون-افغان د پېوستون له ستر ارمانه ځار کړه او د ژوند تر وروستی سلګی تړې لاس پر سر نه شو ګوندې سوی راپاتې ستوري یې هغه نیمګړی پاتې ملي-انساني ارمان له هماغسې ټینګ هوډ و ایمان سره پرمخ یوسي او له دې سره یې ارمانژلې پښتني اروا ښاده او هوسا وساتي!

موږ یې په دې ترخ کې چې د هغه جنګیالي او فرهنګیالي اروا ښاده غواړو، ویرژلې کورنی او پاتورو هممورچلو ته د زړونو له تله خواخوږي وړاندې کوو.

**پوهاند دوکتور م.ا زیار**
سید حسین هاشمي (پاچا) او کورنی
اکسفورډ، اپریل ۲۰۰۶





# د ډاکتر کبیر ستوري په ناڅاپي مړینه د کامل پښتو ادبي جرګې د غمرازی پېغام

په خواشینی سره مو خبر ترلاسه کړ، چې د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند مشر ډاکتر کبیر ستوری په جرمني کې په حق ورسېد.

د ډاکتر کبیر ستوري مړینه د پښتو ادب او پښتو ژبې لپاره یوه ستره ضایعه ده.

کامل پښتو ادبي جرګه (پېو، پېښور) د خدای بښلي ډاکتر کبیر ستوري په مړینه د ژور غم او خپګان څرګندونه کوي او دا غم د ټولو پښتنو شریك غم ګڼي.

د لوی خدای په دربار کې لاس په دعا یو، چې د ډاکتر کبیر ستوري جنت الفردوس او د خپلوانو، دوستانو، شاګردانو او د پښتو ژبې او ادب د ټولو مینه والو صبر او حوصله په نصیب شي.

**ډاکتر شېر زمان طایزی**
صدر کامل پښتو ادبي جرګه، پېښور

## په سویډن کې د افغانانو علمي او فرهنګي مرکز د خواخوږی پېغام

په خواشینی سره مو خبر ترلاسه کړ، چې ډاکتر کبیر ستوری د وریښینې شوې ناروغی له امله د روان میلادي کال د اپریل په څلورمه ورځ له فاني دنیا څخه سترګې پټې کړې

انا الله و انا الیه راجعون

اروابناد ډاکتر کبیر ستوري سربېره پردې چې د قلم په ژبه یې د افغان ولس له کتو سره خپله علاقه څرګندوله، د سیاست په ډګر کې یې هم تلاښ کاوه، ترڅو افغان ولس ته د خپل توان له مخې خدمت وکړي

موږ د پښتو ژبې ددغه شاعر، لیکوال او سیاست وال مړینه د افغانانو لپاره لویه ضایع بولو. د لوی خدای له دربار نه د هغه دوستانو او علاقمندانو ته د زړه د صبر غوښتنه کوو.

**د افغانانو د علمي او فرهنګي مرکز**
**د مشرتابه جرګه**





# د دانش خپرندویې ټولنې
# د خواشینی پېغام

په ډېره خواشینی سره مو د لیکوال، ارواپوه، سیاسي او ملي شخصیت ډاکتر کبیر ستوري د ناڅاپي مړینې خبر واورېد، چې په اورېدو یې ډېر خواشیني او دردمن شوو. د پښتو ژبې او پښتنو لپاره د ډاکتر کبیر ستوري نه ستړې کېدونکې هلې ځلې د هېرولو نه دي

د دانش خپرندویې ټولنې او الفت میاشتنی خپرونې ټول کارکوونکي د اروابناد له درنې او پتمنې کورنی سره په دغه درانه غم کې ځانونه برابر شریك ګڼي، د لوی څښتن له درباره اروابناد ته په جنت الفردوس کې لوړ ځای او درنې کورنی ته یې د زړه صبر غواړو

**اسدالله دانش ساپی**
د دانش خپرندویې ټولنې مشر
پېښور ـ پښتونخوا

## د افغان خپرندویې ټولنې د خواشینی پېغام

د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند مشر او د پښتو ژبې یو ځلاند ستوری پرېووت. دا خبر موږ لپاره د ډېرې خواشینی او خپګان سبب وګرځېد. ډاکتر کبیر ستوري د پښتو ژبې او ادب لپاره ډېر فعال کار کړی و او د هېواد څخه دباندې نړۍ کې یې نه یوازې په خپله د پښتو ډېر ستر خدمت کړی و، بلکې نور پښتانه یې هم تل دې ته هڅولي وو، چې د خپلې ژبې او ادب د ښېرازی او ودې لپاره کار وکړي. د هغه مړینه د پښتو ژبې او ادب لپاره یو نه سرکېدونکی تاوان دی.

افغان خپرندویه ټولنه دا غم د ټولو پښتنو شریك غم ګڼي او د افغانستان له حکومت څخه غوښتنه کوي، چې د ډاکتر کبیر ستوري د لوړو خدماتو د اعتراف لپاره په کابل کې د پښتو ژبې یوه نوې اداره د هغه په نوم جوړه کړي

**عبدالهادي حیران**
افغان خپرندویه ټولنه ـ پېښور

لیکنې ورکړې، چې په رښتیا ورته په ادب او ټولنه کې اړتیا لیدل کېږي.

موږ د شفیق د ادبي ځېړنځي ټول کارکوونکي او ملګري ددغه پښتون خدمتګار په مرګ وير کوو او د درنې کورنۍ ټولو غړيو او واړه خوارږو سره يې د دوی د نه هېرېدونکي غم درد شريکوو، د لوی او لايزال څښتن تعالی څخه ورته د زړه صبر او د هغوی د پاتې کړنو د بشپړولو او نيمګړيو ارمانونو د پوره کولو حوصله غواړو.

روح يې ښاد او قبر يې روښانه

**اخندزاده ننګ کاموي**

شفيق ادبي ځېړنځی ـ کابل افغانستان

## د خوست ويب پاڼې د خواخوږۍ او غمشريکۍ پيغام

په ډېره خواشينۍ سره مو د نوميالي اديب، شاعر او پښتون ډاکتر کبير ستوري د مرګ خبر واورېد.

پښتو ژبې او ادب لپاره به د ډاکتر کبير ستوري خدمتونه او کارونه تل ياد ساتلی شي. موږ په دې لوی غم کې د ارواښاد له کورنۍ سره برابر شريک يو او د لوی خدای په دربار کې لاس په دعا يو، چې ارواښاد کبير ستوري ته جنت الفردوس او کورنۍ او دوستانو ته يې صبر جميل نصيب کړي.

**عبدالله خوستی** د خوست ويب پاڼې چلوونکی

## د امريکا په شمالي کليفورنيا کې د افغاني کلتوري ټولنې د خواخوږۍ او غمشريکۍ پيغام!

په ډېرې خواشينۍ سره مو خبر ترلاسه کړ، چې د پښتنو د ټولنيز ولسوليز ګوند مشر، د علم او قلم خوند ارواښاد ډاکتر کبير ستوري د زړه د ناروغۍ له کبله ددې فاني دنيا څخه سترګې پټې کړې

موږ ددغه ادبي، وګړنيز، کلتوري او سياسي شخصيت مړينه نه يوازې د دوی درنې کورنۍ ته، بلکې ټول افغان ولس ته يوه لويه ضايع ګڼو او د پاک خدای له درباره دوی ته د ښېښې او مغفرت او د کورنۍ ټولو غړيو، مينه والو او خواخوږو ته يې د صبر او استقامت غوښتنه کوو قالو ان لله و ان اليه راجعون

چې پيدا شوې تا ژړل خلکو خندل

داسې ومره چې ته خاندې خلک ژاړي

**محمد حسين شېرزاد** د افغاني کلتوري ټولنې مشر





## بوږنوونکی خبر او د خواشينۍ پيغام

په ډېرې خواشينۍ سره مو خبر ترلاسه کړ، چې نامتو افغان ساپوه، ويناوال، ليکوال او سياستوال دوکتور کبير ستوري په پردېسۍ کې خپله ساه ابدي پردېس استازي ته وسپارله. اروا دې يې ښاده او جنتونه دې يې په برخه وي.

ارواښاد کبير ستوري، په وينا او عمل دواړو کې د لوی افغانيت، سياسي خپلواکۍ، ټولنيز نياو، د لوی پښتني ټولنې د رامنځته کيدنې او د هغې د هوسايني او بسيايني د ستر انساني ارمان لپاره ستريا نه منونکې او قدرړ ور خدمتونه ترسره کړي دي.

افغان فرهنګپاله ټولنه د نوموړي مړينه د هېواد او سيمې د سياسي ـ کلتوري بهير لپاره ستره تشه ګڼي، ځان د هغه د کورنۍ، دوستانو او همفکرانو سره د هغه د مړينې په غم کې شريک ګڼي او يو ځل بيا د هغه لپاره د لوی څښتن له درباره د ښېښې او جنت غوښتنه کوي.

فرهنګپالې ټولنې مشرتابه جرګه ګۍ اغوس ـ ډنمارک

## د ډاکتر کبير ستوري پر مړينه د خواشينۍ او خپګان څرګندونه

د ۲۰۰۶م کال د اپريل ۵مه "سپرغۍ" د هېواد د ستر پښتون عالم ارواښاد کبير ستوري پر مړينه خپل ژور غم او خپګان څرګندوي.

ارواښاد ستوری د پښتنو يو تکړه او روڼ اندی ليکوال، شاعر او سياست پوه و، چې د پښتو ادب د پياوړتيا او د پښتنو د بېدارولو او پوهولو په لاره کې يې بې ساري هلې ځلې کړي.

ارواښاد په پښتو ژبه ډېر ارزښتناکه او ګټور آثار له ځانه په ميراث پرېښي دي، چې دا پښتو ادب او فرهنګ ته د هغه ښه او غوره سوغات بلل کېدای شي.

د هغه په مړينه د هغه ټول دوستان غمجنه شوي او د لوی خدای جل جلاله دربار ته د هغه د روح دپاره دعا کوي.

اروا يې ښاده او ياد يې تل ژوندی اوسه.

په درنښت

**سپرغۍ ويب پاڼه**





## د ناروې د اوسلو او تروندهايم په ښارونو کې د افغانانو د کلتوري ټولنو د غمرازۍ ګډ پيغام

ان لله و ان اليه راجعون

په ډېره خواشينۍ سره مو خبر واخيست، چې لوی پښتون سياستوال، د ساپوهنې ډاکتر، پياوړی ليکوال او شاعر ډاکتر کبير ستوري له دې نيمګړې نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

موږ ددې خبر په اورېدو سره ډېر خواشيني شو، د نوموړي مړينه د پښتنو د يووالي لپاره يوه لويه ضايعه ګڼو.

موږ خپله خواشيني او غمرازي د خدای ج بښلي پاتې کسانو ته وړاندې کوو. موږ په دې لوی غم کې ځانونه له دوی سره شريک ګڼو. کورنۍ ته يې جميل صبر او ارواښاد ته د لوی خدای ج څخه د فردوس جنت غوښتنه کوو.

روح دې يې ښاد وي.

**نظيف الرحمن سرشار او فضل الرحمن حميدي**

## ستوري پرېوتل

**سليم بنګش**

يو څو ورځې اګاهو د پښتو د ادب دوه ځلنده ستوري پرېوتل. يو د ډاکتر شېر زمان طايزي مشر ورور قمر زمان طايزی او بل په جرمني کې د پښتو نامتو ليکوال، شاعر او اديب ډاکتر کبير ستوری په حق ورسېدل.

انالله و انا اليه راجعون

د دو دواړو دغه ناڅاپي مرګونه د پښتو د ادب دپاره يو لوی زيان دی.

ډاکتر کبير ستوري په جرمني کې د پښتو د ادب جنډه هسکه ساتلې وه. هغوی که هر څو په جرمني کې ژوند کولو او د فلسفې او سيکالوجي ډاکتر و، خو د پښتونخوا په ادب يې ژور نظر لرلو. هغوی به په خصوصي توګه ددغې سيمې ادبي پروګرامونو نه ځان خبرولو او خينې پروګرامونو ته به په خپل خرڅ راتلو هم او موږ به يې په يورپ کې د پښتو او پښتنو د هلوخلو نه خبرولو. هغوی په جرمني کې مېشت پښتانه راغونډ کړل او د پښتون سوشل ډيموکريټک په نوم يې پارټي جوړه کړه.

کبير ستوري په اخري ځل پېښور ته عالمي کنونشن کې د ګډون دپاره جرمني





نه راغلی و. هغوی په کنونشن کې مقاله هم اورولې وه، کومه چې په "پښتو: پرون، نن او سبا" کې چاپ ده.

هغوی په جرمني کې نه يوازې د پښتو ادب د ترقۍ دپاره کار کولو، بلکې د پښتنو د سياسي پوهې د ودې لپاره يې يوه مجله هم چاپوله. ډاکتر صاحب کبير ستوری د ډېرو کتابونو مصنف هم و.

نن د پښتو ټولې ادبي جرګې، د عالمي پښتو ادبي کنونشن ملګري، پښتو ادبي چمن تل، کامل ادبي جرګه پېو او داسې نورې ټولنې او ادبي شخصيتونه او سياسي مشران د هغوی په مړينه خپه دي او دعا کوي، چې پروردګار دې هغوی وبښي او وارثانو ته دې يې صبر نصيب کړي. آمين

## په برتانيه کې د اوسېدونکيو افغانانو د ټولنې له خوا د غمرازۍ او تسليت پيغام

په ډېره خواشينۍ سره مو خبر ترلاسه کړ، چې په پښتو مېن، ستر ليکوال، پياوړی شاعر او تجربه کار سياستوال ارواښاد ډاکتر کبير ستوري له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړې.

انا لله و انا اليه راجعون

د پښتو ژبې د ادب او د خپل ولس د يووالي لپاره د ډاکتر کبير ستوري نه ستړې کېدونکې هڅې او خدمتونه د افغان ولس لپاره نه هېرېدونکي دي.

د ارواښاد ډاکتر کبير ستوري مړينه د افغان ولس لپاره يوه ستره ضايعه ده.

په برتانيه کې د اوسېدونکيو افغانانو ټولنه خپل ځان له ټولو افغانانو سره په دې غم کې شريک ګڼي. موږ خپله خواشيني او غمرازي ټولو افغانانو ته او په ځانګړې توګه د خدای بښلي پاتې کسانو ته وړاندې کوو. کورنۍ ته يې جميل صبر او زغم غواړو او ارواښاد ته له لوی او بښونکي څښتن تعالی څخه د فردوس جنت هيله کوو.

روح دې يې ښاد وي

**سيد جان کارواني** د ټولنې مشر

## په هالنډ کې د افغاني کلتوري ټولنې د خواشينۍ پيغام

يوه بل خواشينوونکي خبر مو زړونه ودردول.

خبر شوو، چې د هېواد يو بل افغان بچی اروپوه، ليکوال او شاعر ډاکتر کبير

ستوری د تل لپاره له دې نیمګړې دنیا وکوچېد.

لوی څښتن دې یې جنتونه په برخه کړي.

اروابناد ستوری د پښتون قام او ټول افغان ولس ته د خدمت کولو هیلې له خان سره یوړې. موږ په داسې حال کې چې دده ټېرو هلوځلو ته په درنه سترګه ګورو، نوموړي ته د جنتونو او د اروا د ښادۍ دوعا کوو او کورنۍ ته یې جمیل صبر غواړو.

په درنښت

**افغاني کلتوري ټولنه ــ هالنډ**

## د واک فونډېشن د غمرازۍ پېغام

د پښتانه لیکوال، څېړونکي او سیاستوال اروابناد ډاکتر کبیر ستوري د مړینې له کبله هغه اروابناد ته د لوی خدای له درباره جنتونه او د هغوی کورنۍ او ملګرو ته د زړه صبر غواړم.

**انجنیر محمد انعام واک** د واک فونډېشن مشر ــ ناروې

## د تل افغان ویب پاڼې د خواخوږۍ او غمشریکۍ پېغام

د تل افغان ویب پاڼې اداره د اروابناد ډاکتر کبیر ستوري د مړینې په ویر کې خان شریکه بولي. اروابناد ته د جنت الفردوس، نږدې خپلوانو او نورو دوستانو ته یې د غم د زغم د دعا لاسونه پورته کوي.

د تل افغان ویب پاڼې مسؤل چلوونکی **ډاکتر جمشید سمون**

مرستیال او تخنیک چاری **نیک محمد ویال**

## د افغان ملت ګوند د خواخوږۍ او غمشریکۍ پېغام

د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند مشر اروابناد ډاکتر کبیر ستوري بې وخته مړینه د ټولو پښتنو سیاسي، ادبي او کلتوري حلقو لپاره ستره ضایعه ده.

ډاکتر صیب یو پوه سیاستوال، خوږ ژبی شاعر او مبارز لیکوال و. د دوی لیکنې هم سیاسي دي، هم ادبي او هم علمي.

ډاکتر صیب به هرې مهمې ادبي او سیاسي غونډې ته له جرمني نه کوزې پښتونخوا ته خان رارساوه او په خپل ګډون به یې محفل نور هم ښاپسته کاوه، چې





دا د دوی د پښتني مینې عکاسي کوي.

د افغانستان ټولنپال ولسواک (افغان ملت) ګوند په دې ماتم کې خان شریک بولي. خدای دې ډاکتر صیب ته جنتونه او د دوی کورنۍ ته صبر جمیل ورکړي.

په درناوي

**انجنیر اجمل شمس**

د افغانستان ټولنپال ولسواک(افغان ملت) ګوند مشر

## د سلام فرهنګي ټولنې د خواشینۍ پېغام

د هېواد یو بل وتلی لیکوال او د پښتو ژبې خوږ ژبی شاعر ډاکتر کبیر ستوري له دې پاتې دنیاګۍ نه د تل لپاره مخ واړاوه.

انالله و انا الیه راجعون.

د اروابناد ډاکتر کبیر ستوري ناڅاپي مړینې ډېر غمجن کړي یو، زموږ لا د مرحوم قمر زمان طاېزي په غم ژړا نه وه پای شوې، چې دا بل نوی غم راپېښ شو.

له توره بخته په یوه اوونۍ کې دوې داسې سترې تشې د افغان ولس او پښتون قام مخ ته راغلې، چې د ډکېدو نه دي.

سلام فرهنګي ټولنه د اروابناد ډاکتر کبیر ستوري او مرحوم طاېزي له کورنیو سره په دې غم کې خان شریک ګڼي. د لوی څښتن څخه وفات شویو ته دفردوس جنت غوښتنه کوو او کورنیو ته یې د زړه صبر غواړو.

امین یا رب العالمین.

د سلام فرهنګي ټولنې د مشرتابه جرګه ګۍ په استازیتوب

**پوهنوال رسول باوري**

## د افغان سینما تیاتر د خواخوږۍ پېغام

په ډېره خواشینۍ سره مو خبر ترلاسه کړ، چې د هېواد نامتو لیکوال، شاعر او ارواپېژندونکی ډاکتر کبیر ستوری د وریښنې ناروغۍ له امله په پردېسۍ کې وفات شو.

د ډاکتر کبیر ستوري مړینې نه یوازې خپله کورنۍ په ویر کېنوله، بلکې د هېواد ټول فرهنګیان او شاعران یې په خپل ماتم غمګین کړل.

د افغان سینما تیاتر مرکز د نوموړي مړینه د خپل هېواد ډېره لویه ضایعه بولي، د هغه روح ته د لوی خدای ج له دربار څخه د بښنې او د هغوی د کورنۍ په





ګډون د هغوی ټولو دوستانو او مینه والو ته د جمیل صبر غوښتنه کوي.

روح دې یې تل ښاد وي

**انجنیر فریدالله ساپی**

د افغان سینما تیاتر مطبوعاتي اداره کولن، جرمني

## د پښتنو ټولنیز ولسولیزګوند د ښځو د برخې د غمرازۍ پېغام

انالله و انا الیه راجعون

د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند د مشر، ستر لیکوال او وتلي شاعر ډاکتر کبیر ستوري د مړینې له امله موږ افغاني-پښتني مېرمنې او د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند د ښځو د څانګې غړې او مینه والې خپله ژوره خواشیني څرګندوو او دا د افغان-پښتون ولس لپاره یوه ستره ضایعه بولو.

موږ له لوی څښتن څخه د اروابناد ډاکتر کبیر ستوري لپاره د جنتونو دعا کوو، لوی څښتن دې ورته کونړونه جنت وګرځوي او همداسې موږ د اروابناد کورنۍ، دوستانو او د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند غړیو او مینه والو ته له لوی څښتن ج څخه د زړه صبر او د اجرونو هیله کوو.

د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند د ښځو د څانګې مشره

**مېرمن ښاپېرۍ شینوارې**

## کبیر ستوری هم ولاړ

ګوربت: سه شنبه، د وري ۱۵ مه

د پښتو ژبې تکړه لیکوال کبیر ستوری له هېواده لرې په جرمني کې له دې نړۍ سترګې پټې کړې. انا لله و انا الیه راجعون.

خدای ښبلی ستوری د هېواد یو نومیالی ارواپوه، لیکوال او ټولنیز شخصیت و، چې د خپل عمر په اوږدو کې یې ګڼ شمېر آثار په پښتو لیکلي دي.

ګوربت فرهنګي ټولنه اروابناد ستوري ته فردوس جنت غواړي، کورنۍ او ملګرو او فرهنګیانو ته د زړه صبر.

**ګوربت فرهنګي ټولنه**

**که زما ستوري په قبر چېرې راشې**
**په پښتو راته دعا کړه پرې مین یم**





# په کابل، امریکا او جرمني کې د اروابناد ډاکتر کبیر ستوري فاتحه واخیستل شوه!

کابل: د هیواد د ملی او منلی شخصیت او د پښتنو ټولنیزولسولیز ګوند د مشر او بنسټ ایښودنکې، د پښتو ژبې در ښتینی پالونکې، شاعر، لیکوال، ادیب، څېړونکې، ژورنالست او د پښتون قامی وحدت سرلښکر د ساه پوهنی ماهر اروابناد ډاکتر کبیر ستوری فاتحه دروان کال ۲۰۰۶ ع د اپریل د میاشتی په ۲۲ نېټه په کابل کې د عیدګاه په جامع جماعت کی په دولتی ( سرکاری ) مراسمو سره واخیستل شوه.

په فاتحی کې خپلوانو، دوستانو، هیوادوالو، سیاسی او ادبی ملګرو ،ملی شخصیتونو ،لوړرتبه دولتی چارواکو او ګڼ شمیر مینه والو د هیواد دبیلابیلو برخو څخه ګډون کړی وو. په راغلو میلمنو کې د افغانستان دجمهور رئیس مرستیال او مشاور وزیر ښاغلی هدایت امین ارصلاح په کلتوری او فرهنګی چارو کې د جمهور رئیس مشاور وزیر ښاغلی زلمی هیواد مل د افغانستان د لوړو تحصیلاتو وزیر ښاغلی پوهاند ډاکتر سید امین شاه حسن یار د پوهنی وزیر ښاغلی نور محمد قرقین د مخدره موادو پر ضد د مبارزی وزیر ښاغلی حبیب الله قادری د مالی د وزارت سر پرست او اداری معین ښاغلی عبدالرزاق صمدی د جمهور رئیس صلاح کار وزیر او د کابل پوهنتون پخوانی رئس ښاغلی پوهاند عبدالسلام اعظمی د افغانستان د المپیک د کمیتی مشر او صلاح کار وزیر ښاغلی محمد انور جګدلک د کابل پوهنتون رئیس او د عدلی د وزارت صلاح کار پوهاند فاروق بشر د پوهنی پخوانی وزیر پوهاند عبدالرسول امین د پوهنی د وزارت د علمی څانګی غړی او د کابل پوهنتون استاد پوهاند دکتور محمد قاسم جمدر د کابل پوهنتون استاذان ښاغلی پوهاند ډاکتر نوراحمد میرازی، ښاغلی شیراحمد ګردیوال، ښاغلی محمد ظاهر نظام، ښاغلی لطیف الله ساپی او ښاغلی پوهنیار محمد اسماعیل یون او نور....













لیکوالانو او شاعرانو په استازیتوب ښاغلی بشیر «ګوابښ» خپلی لیکنی ولوستلی او لنډی ویناوی ئې وکړی.

د مشاعری په برخه کې ښاغلی استاد عرفان الله «کوټوال»، ښاغلی هدایت الله «هدایت» ښاغلی عبدالواحد، ښاغلی غروال، ښاغلی ګلرنګ «کوچوان» او نورو ګڼ شمیر شاعرانو خپل شعرونه واورول.

د غونډی په پای کې ګډون کوونکی د مازیګر په دری بجو د اروابناد ډاکتر کبیر ستوری قبر ته لاړل او د اروښاد روح ته ئې دوعا وکړه. د ګډون کوونکو په

استازیتوب د PSDP د مشرانو جرګی غړی ښاغلی ډاکتر شیر ولی «شیر» د لنډی وینا وروسته د اروابناد د مزار د جوړولو ډبره هم کیښوده.





ډاکتر احمد علي عاجز

غړ شو فضا کې چې اسمان نه کبیر ستوری لاړ
ما وې تیاره شوه د پښتو نه د سر سیوری لاړ
چا ویل پښتو مړه شوه، جرمن کې مېلمستیا ورکه شوه
ما وې د مینې وروروللی یو روڼ تندی لاړ
چا ویل د ګلو ګلدسته وه د پښتو ګلدان کې
ما وې بهار و خوشبویي وه سپرلی لاړ
هغه چې امن خوشحالي یې پخپله ځمکه غوښته
حیف یو ارمان د آزادۍ د زړګي تنکی لاړ
لاخو بصیر نصیر بلا ستوري اسمان کې شته
خانده ژړا مه کړه کبیر چې تلو موسکی لاړ

## د ماما صاحب په ناڅاپي مړینه

ببرک دقیق شفیق
ګولډ شتاین فرانکفورټ

نن مو بیا کور کې تیاره شوه
زموږ کلي کې برق تللی
په اسمان راښکاره نه شو
د سبا ستوری ښاغلی
د پښتون اسمان له غیږ نه
یو پښتون ستوری لوېدلی
بې محشره قیامت جوړ دی
د پښتون برخه سپېره شوه
پښتونخوا ټول قبر قبر
د مېړانو هدیره شوه.





# د ډاکتر کبیر ستوري د لومړي تلین کلیزه په کونړ کې ونمانځل شوه

د ۱۳۸۶ هـ ل کال د حمل د میاشتې په (۱۵) نېټه، چې (۲۰۰۷، ۴، ۴) نېټې سره سمون خوري د ملي او سیاسي شخصیت، شاعر، لیکوال او څېړونکي اروابناد ډاکتر کبیر ستوري د لومړي تلین په یاد د کونړ مېشتو فرهنګیانو په نوښت د کونړ ولایت په مرکز اسد آباد ښار کې یوه لویه غونډه او مشاعره جوړه شوه.



د غونډې خانګړي مېلمانه د کونړ ولایت د اطلاعاتو او کولتور رئیس عبدالقیوم حکیمزی، محمد شفا مشفق، د علومو اکاډمۍ غړی څېړونکی عبدالقیوم زاهد مشوانی، شا ولي سالارزی، عبدالبصیر ستوری، محمد اکرام ماموند او عبدالنصیر ستوری وو.

غونډه د قاري عبدالهادي عاصم له خوا د قرآن کریم د څو مبارک آیتونو په تلاوت سره پیل شوه، ورپسې د افغانستان د اطلاعاتو او کولتور د وزیر عبدالکریم "خرم" پیغام د کونړ ولایت د اطلاعاتو او کولتور د رئیس عبدالقیوم حکیمزي له خوا ولوستل شو.

د غونډې د ستېج چارې پیاوړي لیکوال او شاعر ادریس غروال او د علومو اکاډمۍ غړي څېړونکي وجیه الله شپون ترسره کړې.





همدارنګه د پیغامونو په لړ کې د کونړ ولایت د اطلاعاتو او کولتور د ریاست پیغام حشمت قلمیار، د پښتو د ټولنیز ولسولیز ګوند پیغام، شاه ولي سالارزی، د عوامي نیشنل پارټی د مشر محمد افضل خان لالا پیغام، ادریس غروال او په همدې ډول د پښتنو کولتوري ټولنې پیغام،



د پښتو کولتوري ټولنه_ کولن جرمني پیغام.
پښتون کور (کولتوري مرکز بن) پیغام.
د افغانستان د روغې او بیا ابادولو ټولنه کولن، بن جرمني پیغام.
د کونړ ود ځوانانو کولتوري او فرهنګي ټولنه کولن، جرمني پیغام.
په مونشن ګلاډبخ کې د افغاني کولتوري ټولنې پیغام.
د کونړ د اطلاعاتو او کولتور د رئیس پیغام.
د شمشاد ټلوېزیون پیغام.
د شپون کولتوري ټولنې پیغامونه ولوستل شو.

د ننګرهار د اسلامي پوهنتون د کونړ د محصلینو د اصلاحي شورا پیغام، همدا رنګه د هېواد په دننه او بهر کې د نورو ادبي او کولتوري ټولنو پیغامونه ولوستل شو.

د مقالو په برخه کې د اروابناد ډاکتر کبیر ستوري په ډېر اړخیز شخصیت، علمي او پوهنیزو آثارو، شاعرۍ، ژوند او مبارزه د علومو

اکاډمۍ غړی وجیه الله شپون، خیبر جبارزی، محمد شعیب غروال، نجیب الله کونړی، عبدالحلیم همت، عرفان الله کوټوال، رضوان الله شپون، عبدالهادي عاصم او نورو...

همدا راز د ګڼ شمېر لیکوالو او پوهانو له خوا مقالې واورول شوې او د ارواښاد ستوري په خدماتو یې رڼا واچوله.

د غونډې په دوهمه برخه کې یوه آزاده مشاعره وشوه، چې پکې ډاکتر کبیر ستوري ته د عقیدت پېرزوینې هم وړاندې شوې. په مشاعره



کې لطف الله خاموش، محمد غیاث، شېر زمان صادق، کاتب شاه کاتب، شفیع الله تاند، شوکت الله عابد، محمد آصف میاخېل، مجیب الله قوروال، بصیر الحق عادل، ګلرنګ کوچوان، رنجش، محمد قاسم فقیریار، عبدالحلیم همت، عبادالله رنجش، عرفان الله کوټوال او نورو ګڼ شمېر شاعرانو خپل شعرونه واورول، چې د ګډون کوونکیو له خوا په تودو چکچکو بدرګه شول.

د غونډې په ترڅ کې په متفقه ډول یو قرارداد هم منظور شو، چې پکې د افغانستان د حکومت څخه غوښتنه شوې وه، چې د کونړ ولایت یوه لېسه باید د ارواښاد ډاکتر کبیر ستوري په نوم ونومول شي.

د غونډې په پای کې د علومو اکاډمۍ غړي عبدالقیوم مشواني خپله لنډه وینا وکړه او د داسې غونډو جوړول او د خپلو ملي اتلانو یاد یې یو با ارزښته کار وباله.

غونډه د ماسپښین په یوه بجه پای ته ورسېده.





## د ارواښاد ډاکتر کبیر ستوري یاد

### (د هغه د لومړني تلین په مناسبت)

د اپریل په څلورمه نېټه د جرمني د هورت په ښارګوټي کې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې د مشرتابه جرګې غونډه جوړه شوه. د دغې غونډې په پیل کې، د افغانستان د نومیالي لیکوال او عالم ارواښاد ډاکتر کبیر ستوري د لومړني تلین په مناسبت، هغوی ته دعا وشوه او په شخصیت او اثارو یې لنډې خبرې وشوې. همدغه ورځ د ارواښاد ستوري د لومړني تلین ورځ وه. د غونډې په نورو برخو کې د ټولنې په راتلونکو کارونو خبرې وشوې او د نوي او معاصر افغانستان د جوړېدو د ۲۷۰ کلیزې د لمانځلو پر پروګرام بحث وشو.

## د غمرازۍ له کتاب څخه

**اسفندیار ولي خان:**

که د ستوري صاحب په شان نور په قوم مېن پښتانه په پښتنو کې پیدا شي، د پښتون او پښتنو مسئلې به زر حل شي.

**عزیز سرشار:**

د کبیر ماما یو مرګ زما لپاره څو مرګونه دي. دیو معنوي پلار مرګ، د یو استاد او لارښود مرګ، د یو خوږ ملګري مرګ او همدا راز سیاسي او ادبي خاتته والی. د هغه خاطرې او لارښوونې زما د ژوند ارمانونه او پوره والی دی.

**استا یار محمد علي زی:**

د ډاکتر کبیر ستوري وفات پښتو کلتور او ادب ته، د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند ته او ټول پښتون قام ته یو نه جبرانېدونکی نشتوالی دی، چې په دې غمیزه کې ټول خلك په تېره بیا د ادب، هنر او افغاني کلتور پښتني ټولنه د ارواښاد ستوري غمشریك دي.

**ډاکتر محمد هاشم بابري:**

ډاکتر ستوري خپل ژوند پښتو او پښتونولۍ ته وقف کړی و. زه خپله اوسنۍ عقیده د ستوري صیب محصوله بولم او ډېرو پښتنو ته یې د یووالي او د سیاسي





شعور بېدارۍ وروښودله. لکه څنګه چې په ستوري صیب پښتانه ګران وو، همدا شان دی هم په پښتنو ډېر ګران و.

**استاد شیرینډل کامران ګردیوال:**

سهرګاه وه د نرګس لېمه لانده
څاڅکی، څاڅکی یې له سترګو څڅېده
ما ویل څه دي ښکلیه ګله ولې ژاړې؟
دې ویل ژوند مې دی یوه خوله خندېده

دا نړۍ زموږ د ټولو لپاره یوه فاني نړۍ ده، نېکمرغي د هغه چا په برخه ده چې دوی فاني نړۍ څخه په نیك نوم رحلت وکړي.

**زرین انځور:**

د ډاکتر کبیر ستوري مړینه د افغان ولس لپاره، د پښتنو لپاره او د لوی افغانستان د ملي وحدت لپاره یوه لویه ضایعه ده.

ارواښاد ستوری لیکوال، شاعر، عالم، سیاستوال او یو سپېڅلی انسان و، چې ژوند یې د سپېڅلتیا یوه ننبه وه او مړینه یې هم د داسې یو سپېڅلي انسان په څېر وه، چې ټول وطن غم ورسره شریك کړ.

**شېر احمد څدران:**

وعده کوم چې ستا د ارمانونو د پوره کولو دپاره به موږ هر ډول هلې ځلې کوو.

**محمداجان یار:**

د پښتو د اسمان انګړ د کبیر ستوري په مړینه خالي شو. هغه پښتني پښتون زموږ له څنګه لاړ.

**صدیق:**

د ډاکتر صاحب ستوري مړینه د ټولو افغانانو لپاره یوه لویه ضایع بولم.

**ضیاء الحق فضلي:**

مرحوم ستوری د پښتو ژبې له ادبیانو او هغه پوهانو څخه و، چې تر ډېرې مودې پورې څوك دده ځای نشي ډکولای.

**ډاکتر یحی "وردګ":**

ډاکتر ستوری په افغانستان، پښتونخوا او افغانانو مېن پښتون و

**انجنیر شاه زلمی:**

د ډاکتر کبیر ستوري په مړینې سره د افغانستان د خلکو د ملي او وطنپرستو شخصیتونو په شمېر کې کمبود پیدا شو. موږ او ټول افغانان د هغه ملي او مترقي





کارونه او زحمتونه تل په قدرانۍ سره یادوو او د هغه پاك ارمان ته د رسېدو په لاره کې د ټولو افغانانو بریالیتوب غواړو

**امام الدین ساپی:**

د ډاکتر ستوري مړینه د ټول پښتون ولس لپاره لویه ضایع ده.

**نظیف الله تکل:**

نه پوهېږم د سیمې د لوی، سیاسي، ټولنیز شخصیت ډاکتر کبیر ستوري، چې شاعر هم و او لیکوال هم، په پښتو مېن هم و او په افغانستان هم، دده د ناڅاپي بې وخته مړینې د خواخوږۍ مراتب له کومه ځایه شروع کړم؟ له هغه ځایه، چې دده ارام خوی او خاصیت، چې په هره غونډه او سیمینار کې به مې ولیده، نو شخصیت اغېز به یې راباندې وو. که له هغه ځایه چې نن سبا پښتانه د یوه ښه او دروند مشر له مشرتوب څخه بې برخې دي، دا زموږ ګډه شتمني وه او ګډ غم.

**عبدالله احسان:**

د بېنوا ویېبپانګې چلوونکی

هغه څه چې ارواښاد کبیر ستوري پرې ایښي دي، موږ (پښتانه) ویاړ پرې کوو. ارواښاد ستوری نه یوازې دا چې زموږ په زړونو کې ژوندی دی، بلکې د پښتنو د یووالي په لاره کې به د ارواښادستوري ویناوې او آثار خورا مهم رول لوبوي.

**محمد عیان "عیان":**

ارواښاد ستوری او زه دواړه له رحمان بابا لېسې څخه فارغ شوي یو. موږ دواړو به یوځای د ښوونځي په کنفرانسونو کې برخه اخیسته، چې زما او دده د راتلونکي مطبوعاتي ژوند لپاره ښه لارښود شو. د هغه، د هغه وخت د شعر یو بیت چې لاتراوسه مې هم په یاد دی، چې د خپل شعر په وروستي بیت کې یې وویل:

"ای کبیره د پیسې طرفدار مه شه"

هوکې! ددغه بیت نه سړی پوهېدای شي، چې هغه څه نظر درلود؟ د هغه ناڅاپي مړینه واقعاً لویه او ستره ضایع ده.

**ډاکتر سیف الله خان:**

دوکتور کبیر ستوری یو سوچه پښتون او د یوې خبرې سړی و، د هغه ناڅاپه مرګ موږ ټولو پښتنو لپاره یوه غمناکه پېښه ده، چې بدل موندل یې ناممکن دي.

**محمد اقبال وزیری:**

هیله من یم، چې په پښتو ژبې مېن ډاکتر کبیر ستوري انساني هدف به ترسره شي.

**ډګروال تاج محمد "حبیب":**

ډاکتر ستوری د معاصر افغانستان نومیالی مبارز، سپېڅلی انسان، په

پښتونولۍ مېن وطنپرست او د صداقت او شرافت او اخلاقو نمونه وه.

**انجنير سعيد:**

ډاکټر کبير ستوری يو سپېڅلی او ملي شخصيت و. نوموړی نه يوازې د کونړ، بلکې د ټول افغانستان په سطحه يو پېژندل شوی شخصيت و.

**انجنير خوشال:**

ارواښاد ستوری زموږ د ژبې او قومي يووالي نوميالی مشر و او د لوړې پوړې عالم و. دده ځای همېشه زموږ په زړونو کې دی.

**نجيب الله احمدزی (بلجيم):**

ارواښاد ستوری د افغاني ټولنې او د هغه د ادب او سياست لپاره يوه لويه او روښانه څېره وه.

**محمد نصير شېرزاد:**

خدای بښلی ستوری ډېر پاك او په پښتو مېن شخصيت و.

**سيحون:**

د لوی شخصيت تلنه واقعاً لويه ضايع ده او د هغه کمی محسوس کوو.

**ډاکټر خوشال روهي:**

ډاکټر کبير ستوری هغه سپېڅلی انسان او پښتون و، چې مړينه به يې يقيناً د پښتنو روڼ اندو لپاره درنه ضايع او دده د بې شمېره دوستانو لپاره د زړه ژور ټپ دی.

**پوهاند ډاکټر سرزمين کيمور:**

يو ځلې بيا په دې لار راشه
د سهار باده غرمو مړاوي کړل گلونه
يو ځلې بيا په دې لار راشه
په پخواني منډو دې پرېواته گردونه.

**اسدالله شېر:**

د ماما صيب کومه مينه، چې له پښتو ژبې سره وه، واقعاً بې انتها وه. خدای دې د هر پښتون په زړه کې داسې مينه واچوي. پښتو ژبې ته يې تلپاتې، نه هېرېدونکي او ستر خدمتونه کړي دي.

**ډاکټر محمد صابر مومند:**

چې پيدا شوې تا ژړل خلکو خندل
داسې مړ شه چې ته خاندې او خلك ژاړي
داسې ښکاري، چې دا شعر خاص د ستوري صيب لپاره ويل شوي وي.





**افضل ټکور:**

ډاکټر کبير ستوری يو لوی پښتون، ساپوه، ليکوال، شاعر، درونډ مشر او په پښتنو مېن افغان و.

**ډگروال پيلوټ غلام سخي شينواري:**

خدای بښلی ستوری صاحب! ته به تل زموږ په زړونو کې اوسې او ټول پښتانه به تا هېڅکله هېر نه کړي. ته به تل ژوندی يې او ټول پښتانه به تا له ځان سره لري

**سيد محمد عارف:**

زموږ لوی مشر د پښتنو درونډ شخصيت له دې دنيا څخه لاړ، موږ ټول يې ځانته پرېښودو. ډاکټر ستوری د پښتنو ټولنيز ولسوليز گوند بنسټ ايښودونکی او د مرگ تر ورځې ددې گوند مشر و. د پښتنو د يووالي او آزادۍ لپاره يې ډېر ستر خدمتونه کړي دي.

**معاون گران برهاني:**

د دنيا او په ځانگړې توگه په سيمه کې د شعر. ادب او فرهنگي ستورو له ډلې څخه يو بل ستوری هم راوغورځېده، چې هغه ښاغلی ډاکټر ستوری (د شعر او ادب يوه پېژندل شوې څېره ده) و. د نوموړي نشتوالی د ټولو پښتنو او د پښتو د مينه والو دپاره ستره ضايعه ده.

په دنيا چې ځلېدلی پاس د غرو په سر
تور لحد ته هم رڼا د سبا ستوري شه.

**انجنير محمد انعام واک:**

*د واك فونډېشن مشر*

د پښتنو د يووالي په لار کې د ارواښاد ستوري سياسي او کلتوري منډې رامنډې به پښتون کهول نه يوازې له ياده نه وباسي، بلکې دا لار به پښتون کهول تعقيبوي. زه يو ځل بيا د هغه د گوند ټولو کارکوونکيو او غړيو ته د هغوی د لارې د مشعل د بل ساتلو هيله من يم.

**ايډوکېټ هدايت الله بنگښ:**

زما ورور او د سياسي لارې ملگری همېشه ژوندی دی او ژوندی به وي او د هغه سياسي او پښتني فکر او نظريه به مخ په وړاندې بوځو، چې ارواح يې خوشحاله وي.

**وکيل نيک محمد "ابراهيم خېل":**

د ډاکټر کبير ستوري بې وخته او ناڅاپي مړينه د پښتنو لپاره لويه ضايع ده.

**محمد عثمان عمر:**

ډاکټر کبير ستوری د پښتون قام ستوری و. په ډېر تاسف سره د پښتون قام د بخت دا





ستوری پر ځمکه راپرېوت، خو زه باور لرم چې هغه او د هغه افکار ژوندي دي.

**مېرزا محمد کونړی:**

ډاکټر کبير ستوری يو ايډيالېست، پښتون، مسلمان هومانست و. ده د خپلو ايډيالونو لپاره ژوند کاوه. په خپله عقيده او لاره کې هېڅ ډول کامپرومس ته تيار نه و. دی يو مهربان، باحوصله شخصيت و. دده مړينه ډېره ستره ضايع ده. موږ به ستا د ارزوگانو د پوره کولو لپاره له هېڅ راز هلوځلو څخه ډډه ونکړو. هر وخت راسره يې ستا يادونه ستاسې غوښتنې او پوښتنې به هېڅکله زموږ هېرې نه شي.

**همايون "زماني":**

ښاغلی ماما صيب زما د مسافرۍ ملگری و، ما په ژوند کې تراوسه پورې ډېر پښتانه ليدلي دي، خو د ماما صاحب په شان واقعي پښتون نه وينم او نه مې تراوسه پورې ليدلی دی.

**ايډوکېټ صفدر خان:**

زموږ د پښتنو يو لوی ملگری زموږ نه جدا شو. هغه چې کوم خدمت خپل ملت ته کړی، هغه د پښتون د تاريخ يو ژوندی باب دی.

**عبدالمحمد مموزی:**

د ارواښاد ډاکټر ستوري صاحب مړينه نه يوازې د پښتنو لپاره، بلکې د هېواد او سيمې لاره ستره ضايعه ده.

**شورش:**

د ستوري صاحب مړينه پښتنو او پښتو ژبې ته نه پوره کېدونکې ضايعه ده.

**انجنير سيد رحمن "رحماني":**

خدای بښلی ستوری صاحب نه يوازې د خپلې کورنۍ لپاره، بلکې د ټولو پښتنو او افغانانو لپاره خورا ستره ضايعه ده. زه شخصاً ټولو پښتنو او افغانانو ته او په خاصه توگه د ستوري صاحب شريفې او محترمې کورنۍ ته د زړه لوی صبر غواړم.

**پښوری شينواری:**

زما لپاره تل ژوندی يې

**"فضل الرحمان فاضل"**

په بن کې د افغانستان قونسل

استاد ستوری د اسمان د ځلېدونکي ستوري په شان زموږ د هېواد د مبارزې په لاره کې کوټلې گامونه اخيستلي دي او د پښتنو د حقوقو لپاره يې مبارزه کړې ده.

**ډاکټر نياز محمد مومند:**

ارواښاد ستوري صاحب له پښتنو او پښتونولۍ سره ستره مينه لرله او په





همدغه اساس يې د خپل ژوند زياته برخه په دغه لاره کې وقف کړې وه.

**حاجي امين "باوري":**

ستا وينه پښتنه وه　　ستا مينه پښتنه وه
ته زما د سر شمله وې　　تـه زما ډ شملې وړی.

**عاشق الله غريب:**

دا چې ته زموږ په منځ کې نه يې، ولې کله به هم زموږ له ياده ونه وځې.

**ډگروال احمد شېر "ساپی":**

موږ به ټول ستا په لار روان يو او ستا د لارې مقتديان يو.

**ډاکټر بشير احمد "صمدزوی":**

ډاکټر کبير ستوری واقعاً د ځلېدونکي ستوري په شان د پښتونخوا په تاريخ کې خپل ځای پرېښود. پر پښتو مېن او د پاك صادق زړه خاوند و.

**اکبر کرگر:**

د خپل گران دوست او فاضل مشر درانه شخصيت لوی ستوري (ارواښاد ستوري) ياد به تل زموږ د نسل په زړه کې ژوندی او تلپاتې وي.

**محمد حسن "شور":**

زموږ گران مشر او د پښتنو ستر لارښود او سياستوال ډاکټر صاحب ستوري! ستاسې تشه به موږ د همېشه لپاره احساسوو. کوښښ به کوو، چې ستاسې د ارمانونو لپاره هلې ځلې وکړو او ستاسې لاره به تعقيبوو. تاسې زموږ لپاره او د ټول افغان ولس لپاره ژوندي ياست او زموږ د روڼ اندو لارښود ياست.

**اکبر بري:**

پښتو ژبې او پښتنو له ډېره بده مرغه يو ډېر قدرمن خواخوږی له لاسه ورکړ او دا هغه څه دي، چې ما پرلپسې ځوروي.

**نصير خان د سوات:**

محترم ماما! خدای دې وکړي، چې په پښتون ولس کې ستا په شان ډېر داسې کسان پيدا شي.

**ببرک دقيق "شفيق":**

گرانه ماما! خدای دې خاورې درسره هم وبښي، ډېر بې وخته رانه لاړې، پښانه يو ځل بيا يتيمان شول.

**سيد عليشاه:**

گرانه ماما! په پښتون قوم کې دې خدای داسې نور خلك پيدا کړي، چې ستا ځای ونيسي.

**عبدالولي "برهان":**

د ارواښاد ډاکتر کبير ستوي ماما مړينې د لر او بر پښتون قام ملا ماته کړه او په پښتون قوم يې ماتم راوست، خو د پښتون قام بچې به د ماما صيب دا ارمانونه په ډېره مېړانه پوره کوي، کوم چې ماما صيب له دې فاني دنيا څخه له ځان سره يووړل.

**لال محمد اقبال:**

د پښتو ژبې دپاره چې کوم خدمت ماما کړی دی، د هغه اجر دې ورته الله تعالی ورکړي. موږ سره په ټول عمر او هر وخت او هر ځای کې تاسو موجود يئ.

**ډاکتر ماخان شينواري "مېړی":**

ته پښتون وې، پښتون سياستوال وې، اديب وې، شاعر وې. په پښتنو او پښتو مېن پښتون/افغان وې. همدا ته وې، چې د پښتنو د يووالي بېرغ دې اوچت ساتلی و او دا دې په مرګ دی هم وښودله. ته دويم پښتون/افغان وې، چې د خان عبدالغفار خان بابا پسې په هماغه لارې لاړې. هغه لار، چې په ژوند دې غوره کړې وه، په مرګ دې هم هماغه لاره شوه.

**پاچاګل وفادار:**

د مرحوم کبير ستوري د مړينې له کبله خپل ژور خپګان وړاندې کوم.

**شاه محمود "حصن":**

د پردېسی په ساه وژونکي ژوند کې د سرونو جنازې روانې دي. ستوری زموږ د هېواد او د پښتو د ادب لوی ستوری، د انسان د هوساينې د لارې ارام، خو نه ذيل کېدونکی مبارز شخصيت و. پښتانه وايي "سل دې ومره، يو دې مه مره" په ډېره خواشينی سره چې دا هم رانه لاړ. په دې هيله، چې د هغه درنه کورنی، دوستان او ياران د هغه درنې لارې ته دوام ورکړي.

**عبدالروف "خپلواک":**

خدای بښلی ستوری صيب واقعاً د وطن يو ملي او په وطن او پښتو ژبه مېن شخصيت و.

**مامون الرشيد:**

خدای بښلی زموږ دروند، خوږ او د مينې ډک ورور مشر او ستر ليکوال، شاعر و پوهاند و. پښتو او پښتنو ته يې نه سترې کېدونکي خدمتونه کړي دي.

**عبدالحبيب "ستومان":**

ډاکتر کبير ستوری زما د ۲۸ کالو ملګری دوست و. ډېرې خوږې شپې او ورځې مو سره تېرې کړي دي





**جمال رحمان:**

د ډاکتر صيب ستوري مړينه بې وخته وه، خو د پښتنو لويه بدمرغي په دې کې ده، چې ددې قام ډېر مهم شخصيتونه تل د دوی د تاريخ په ډېرو حساسو وختونو کې له دنيا تللي. کبير ستوری لاړ، خو زموږ په زړونو او مغزو کې به تل ژوندی وي.

**ډاکتر ظاهر جان "زماني":**

ته يوازې د خپلې کورنی څخه نه يې تللی، بلکې ته له پښتون قوم څخه تللی يې. ته له هغه انسانانو څخه يې، چې پښتون قوم لپاره يې ډېر خدمتونه کړي او ډېرې قرباني دې ورکړي دي.

**پوهنوال ډاکتر محمد سلطانزی "خدران":**

زما د تګلارې پياوړی، زړور، غيرتمن، ملي او علمي لوړ شخصيت د لرې او برې پښتونخوا ځلېدونکی ستوری ولوېده.

ژغ شو چې کبير تېر له دنيا شونا
زړه مې په وير کې مبتلا شونا
جرمني واړه په ژړا شونا
چې د افغان لوړ ستوری تېر له دنيا شونا.

**عزيزالله "بهرام":**

ګرانه کبير ستوری! ته رانه لاړې او موږ دې په دې دنيا کې يوازې پرېښودلو.

**ډاکتر ګرديزي:**

ډاکتر ستوری زما د دېرشو کالو دوست و، چې دده صميمي چلند نه يوازې له ما څخه يو صميمي ورور او دوست جوړ کړی و، بلکې له هر انسان سره چې مخامخ کېده، نو دوستي او اشنايي به يې ورسره کوله.

**انجنير محمد ظريف "صديق":**

د ډاکتر ستوري ناڅاپي مړينه په ربښتيا سره ټولو پښتنو ته يوه لويه ضايعه ده.

**محمد رحيم "يوسفي":**

مرحوم ډاکتر کبير ستوری، چې د خپل عمر ډېره زياته برخه يې د هېواد او خصوصاً لرو او برو پښتنو ته په چوپړ کې تېره کړې او اوږده مبارزه يې کړې ده. دده سياسي مبارزه د ټولو افغانانو او خصوصاً د پښتنو لپاره يو ستر سرمشق دی. پښتانه به د ستوري صاحب لاره په کا ، تعقيبوي.

**سيد امين "اشنا":**

خدای بښلی ستوری د خپلوانو، دوستانو او وطنوالو لپاره خواخوږی، مهربان او د مينې





ډک او پېرزوينو ژوند درلود.

**ډګروال علي محمد "مجبور":**

د ورور ډاکتر کبير ستوري مړينه په پښتون لوی قام کې لويه تشه بولم. په دې هيله چې د پښتون قام ستوري د همدې "ستوري" په څېر وځلېږي.

**انجنير فريدالله "صافي":**

ډاکتر کبير ستوری د ټولو پښتنو په سر روښانه او ځلېدونکی ستوری و او په هر ځای او په هر چا ځلېدلی و.

**استاد سيد حسن "سيد":**

ډاکتر کبير ستوری د انسانيت او شرافت غوره نمونه وه او د پښتون/افغان ولس لپاره د ټولنيزې ولسواکۍ ټينګ غوښتونکی و. د هغه ارمانونه دې خدای د پښتون/افغان په خاوره کې ترسره کړي.

**رشيد احمد:**

*پروډيوسر ريډيو پاکستان، پېښور*

نن موږ دا احساس کولی شو، چې موږ د يو ډېر ښه پښتون قام دپاره يو ښه مبارز نه محرومه شو. الله دې ډاکتر کبير ستوري ته په جنت الفردوس کې ځای ورکړي. د هغه د کورنۍ غړيو ته د زړه ته صبر ورکړي او موږ ته توفيق راکړي، چې د هغه مشن جاري وساتو او تر تکميله يې ورسوو.

**محب الله روفي:**

چې ژوندی وي د چا په ياد نه وي، چې مړ شي نو خلکو ته په ياد شي، خو ډاکتر کبير ستوری په ژوند اومرګ د چا له ياده نه وځي. د ماما صاحب مړينه د کوزې او برې پښتنو ته لويه ضايعه ده.

**علم غرنی:**

د ډاکتر کبير ستوري مړينه زموږ د ټولې کورنۍ او ټولو پښتنو لپاره يوه لويه ضايعه ده.

**محمد فريد ملاخېل کونړی:**

د کبير ستوري مرګ د کونړ خلکو ته يوه لويه ضايعه ده. دده خاطرات به همېشه د کونړ او په خصوص د تنر کلي د خلکو دپاره همېش جاويدان وي.

**حاجي عبدالجميل خاخی:**

زه (حاجي عبدالجميل خاخي) د مرحوم کبير ستوري په مړينه چې د پښتنو دپاره يو لوی خدمتګار و، خپل خپګان وړاندې کوم.

**زرغون شاه شينواری:**

انسان د ټولنې يوه برخه او غړی دی، هغه بنيادمان چې خپل ژوند د ټولنې لپاره





کوي، د تل لپاره ژوندي وي.

**طلا محمد خاخی او حاجي زندی خاخی:**

مرحوم ډاکتر کبير ستوری د پښتو او پښتنو افتخار و. موږ د هغه په مړينې خپل خپګان وړاندې کوو. خدای دې وبښي

**امير محمد قاضي زاده:**

د ډاکتر کبير ستوري مړينه د ټول افغان ولس په خاصه توګه د پښتنو دپاره يوه نه جبرانېدونکې پېښه بولم او خپل ځان د هغې له کورنۍ سره په دې غم کې شريك ګڼم

**قيصر خان ايډوکيټ:**

کبير ستوری ډېر لوی پښتون و، فکرونه او خيالونه يې ټولو نه بېل بېل وو. په خپل قام باندې ډېر زيات مېن و، په ټول يورپ کې په رښتيا ستوری و. د پښتون قوم يووالی د هغه د ژوند مقصد و. دا مبارز زما ډېر نږدې دوست و.

**مستجاب مزدوريار:**

*صوبايي ډپټي سيکرټري واپډا ليبر يونين*

د افغان د اسمان ستوری پناه شو، خدای دې نور داسې ستوري د افغانانو په اسمان کې پيدا کړي. امين.

**اباسين يوسفزی:**

د پښتو د اسمان ستوری اخر پرېوتو، خو چې کله ورځ شي نو ستوري پرېوځي او چې کله هم تورتم راشي، ستوري بيا ځلېږي، بيا پرقېږي.

ډاکتر کبير ستوری د پښتو په هغه نامتو شاعرانو کې شامل دی، د چا په کلام کې چې له هرې ددې قامولي، پښتونولي او غېرت ورننوتی و. په عشقيه کلام کې به يې هم له يوې ددې قام پرستي راننوته

د يو بنيادم په حيث ډېر خوږ، پوست او نرم بنيادم و. د يو دوست په حيث ډېر کوټلی نر پښتون و. ما به که د ليك جواب ورکړو او که نه، خو ددې ښاغلي له لورې به چټی په خپل وخت راتللې. په هر اختر کې به چې دده له لورې مبارکي راغله، نو زما روح به يې خوشحاله کړو.

**سعادت خان ساغر خټک، کرک:**

خدای بښلی ډاکتر کبير ستوری د پښتو ادب د اسمان يو داسې ځلنده ستوری و، چې که هرڅو په جسماني توګه هغه موږ نه پناه شو، خو د هغه خلا به تر هغه وخته پورې وي، چې ترڅو پښتو ادب او پښتون قام ژوندی وي. واقعي چې داسې نابغه روزګار خلك د وخت نه وړاندې پيدا کېږي او د وخت نه وړاندې ډېر بې وخته ځي. خدای پاك خو دې په دې دنيا کې تل داسې انسانان پيدا کوي. واقعي چې ډېر

لوی نقصان وشو، زه په لفظونو کې د دومره لوی غم احاطه نشم کولای.

**سکندر خان خلیل:**

خدای بښلی ډېر نر پښتون و، د کبیر ستوري په شان پښتانه دې خدای په دې خوره پیدا کړي، چې له خپلې ژبې او قوم سره مینه وکړي. روح دې یې ښاد وي.

**ډاکتر فضل دین ختک او ودود هشنغري:**

*د پښتانه لیکوال په نمایندګی*

موږ د پښتانه لیکوال هئیت د اروابښاد کبیر ستوري پاک روح ته د عقیدت سلام وړاندې کوو.

**اکمل لېوني:**

مرګ یو حقیقت دی د هېچا خلاصی ترې نشته
موږه به دا وایو چې ایمان دې خدای نصیب کړه
دلتـــه نـــه د ډېـــرو ارمـــانونو ســـره لاړې
هلته د جنت حورې غلمان دې خدای نصیب کړه

محترم ډاکتر کبیر ستوری په حقیقت کې یو ځلنده ستوری و، ډاسې به ځوک وي، چې ددغه ستوري د رڼا د تاثراتو نه به بې خبره پاتې شوی وي. موږ غوندې لېونو سره یې هم داسې مینه وه، چې کله به د جرمنې نه راغلو او دلته به یې کوم ادبي تقریب کې ولیدم، نو ځان سره به یې ګاډي کې کېنولم او خپل کور ته به یې شپې له بوتلم. ګپ به مو ولګولو، سهار به یې سره د ډېرو کتابونو په رکشه کې رارخصت کړم او خیبر بازار کې یونیورسټي بك ایجنسی سره به کوز شوم. هلته د څه ساعت دمې کولو نه بس به بیا کلي ته راغلم.

دغسې به ډاکتر صیب د جرمنې نه د اختر مبارکۍ هم رالېږله او کمه د پښتو رساله "پښتونخوا" چې به یې د جرمنې نه چاپ کوله، هغه به یې هم رالېږله. ډاکتر صیب د پښتو ژبې او پښتون قام هر قسم خدمت کړی، ټولو پښتنو او خصوصاً شاعرانو او ادیبانو باندې یې دا حق دی، چې په ډېر درناوي سره د ډاکتر صیب په یاد کې مشاعرې او اجلاسونه وکړي او د ډاکتر صیب دې خدمتونو ته په درنه سترګه وګوري.

**مختیار احمد یوسفزی:**

خدای بښلی ډاکتر کبیر ستوری په رښتیا یو ستوری و او د هغوی بې وخته د دنیا نه تلل، پښتو ادب او موږ ته ډېر نقصان دی او زه دا غم په لفظونو کې نه شم احاطه کولای.

**رحمت شاه سایل:**

دوه خبرې په پښتنو کې ډېرې مشهورې دي او دغه دواړه خبرې د پښتنو د





ژوند معیار او د سړیتوب معیار جوړوي یا ټاکي. یوه خبره دا چې خلك وایي "سل دې ومره، یو دې مه مره" او دویمه دا چې "په خوږ کې هر کانی سپر نه وي".

محترم ډاکتر کبیر ستوری په دې دواړو خبرو پوره ختلی و. دویمه خبره دا ده چې په پښتنو کې هر سړی د رایې خاوند نه وي، دده لوی والی دا و چې دی د رایې خاوند و او ددې قام، ددې خاورې، ددې پښتو ژبې دپاره به دده فعالیتونه تل خلك یادوي او دده د جذبو، کار او عمل تسلسل به روان وي.

**محمد ولي او حاجي شهزاده:**

الله تعالی دې ډاکتر کبیر ستوری وبښي. په رښتیا سره دی د پښتو د ادب ځلانده ستوری و او دده کارنامې او کړنې د هېچا نه پټې نه دي. دده مړینه د وطن، د پښتنو، د سیمې او زموږ او ستاسو دپاره غټه ضایعه او تاوان دی.

**مبارز خاپې:**

ای لویه خدایه! هغه چاته چې زما د ادبي، سیاسي او ټولنیز ژوند د لیارې ملګری و، هغه چاته چې خپل ټول ژوند یې د پښتو ژبې او پښتون ولس د چوپړ په لیار کې وقف کړی و، هغه چاته چې یې تل د پښتون ولس یووالی غوښت او هغه چاته چې هېڅکله د هېڅ یوه انسان په سپکاوي خوښ نه و، ستا له لوی دربار څخه په جنت الفردوس کې ښه عالي مکان غواړم او د دې دعا سره جوخت خپل د زړه د درناوي مراتب هم وړاندې کوم.

**محمد ابراهیم شبنم "یوسفزی":**

ماته نن ډېر افسوس دی، چې د کوم لوی انسان او سترې هستۍ د زوی د واده په ښادۍ کې زه دلته راغلی وم، نن د هغو افسوس ناك مرګ دعا له راغلم. ډاکتر کبیر صاحب یو پښتون مزاج انسان و، ډېر خوږ دوست او ښه ورور و. ډېر لوی شاعر او ستر ادیب و، د هغوی په جدایۍ چې موږ ته کوم درد او تکلیف رارسېدو، هغه موږ صرف محسوس کولای شو، وېلای نشو. الله د هغوی کورنۍ له د زړه صبر ورکړي او موږ له هم.

**انور ظفري:**

زه حېران یم چې څه ولیکم؟ خپل زړه څنګه سپك کړم؟ د چا په مرګ څه تاثرات ښکاره کړم؟ زما لپاره زما په ذهن او فکر کې خو ګرانه کبیر جانه ته تل ژوندی یې.

ای د کونړ د ښکلو درو او دنګو غرونو بې بها لعله!
ای د افغانستان د غېرت شملې!
ای په پښتنو او پښتونخوا مین ملګریه!

ته د خپل هېواد لویه پانګه وې او یې. ستا ځای به پېړۍ پېړۍ خالي وي، ځکه





چې تا د خپلو پښتنو ورونو او د افغانستان د بېرغ د پورته او اوچت ساتلو لپاره په ځان ډېرې سختې تېرې کړې دي. په دې لار کې دې تورې تنبې لیدلې دي. خو ای د پښتونخوا د غرونو زمریه!

همدا ته یې چې څه دپاسه سل کاله وروسته دې د افغان سید جمال الدین یادونه تازه کړه او دا دې په ثبوت ورسوله، چې د کونړ په خاوره کې د افغاني سید جمال الدین په څنګ تاسې هم خپل ځای ونیولو. د کونړ خلك، د مشرقي ولسونه او افغانان به په تا ویاړ کوي.

ویاړ دې وي په تا چې ځان دې لکه د شمع وسوځاوه او خپل ولس او قام ته دې لېرې رڼا کړې. زما لپاره هم دا د ویاړ ځای دی، چې نن ستا په څېر د خپل ګران ملګري او ورور یادونه کوم.

تا خپل قام ته ډېر ښه میراث پرېښود. یو خو په پښتو لیکل شوی د ساپوهنې کتابونه دي او دویم خدمت دې دا دی، چې خپل اولادونه دې داسې روزلي دي، چې ستا په لیار روان دي او هغه بار چې تا په اوږو اوچت کړی دی، دوی به یې خپل ځای ته ورسوي. د خپل اولاد دروزنې په څنګ کې تاسې د خپل قام ډېر تنکي خوانان د پښتونولۍ په لیار وربرابر کړي دي. دا لوی کار دی، ځکه نو ته تل ژوند یې.

**محمد افضل خان لالا:**

نن په پېنځلسم (۱۵) اپریل په سپین جومات پېښور کې موږ د خدای بښلي کبیر ستوري لاسنیوي (دعا) ته ناست یو. مرحوم ډېر لوی عالم، شاعر، ادیب، مصنف او مخلص قام پرست و. د هغوی ارمان و، چې د هغه په ژوند کې د هغه تقسیم شوی پښتون قام خپل قامي وحدت ترلاسه کړي، خو د افسوس مقام دی، چې په ژوند یې دا ارمان پوره نشو. خو ددې دپاره مرحوم په جرمنې، یورپ او پښتونخوا کې دومره هلې ځلې کړې دي او داسې روښانه لارې یې جوړې کړې دي، چې زما یقین دی چې د پښتون قام د وحدت دا ارمان به یې ډېر زر پوره شي.

ستوری سراسر اخلاص و، نو افغانانو ورسره د مرګ نه وروسته د بې کچه اخلاص څرګندونه کړې ده. په جرمنې کې، په خپل ملك افغانستان او خپله علاقه کونړ کې او نن دلته په سپین جومات کې ډېر ګڼ افغانان د هغه په جنازه او فاتحه کې حاضر دي او د عقیدت ګلونه او دعاګانې د مرحوم روح ته وړاندې کوي. الله دې ورته جنت الفردوس نصیب کړي او د خپل دیدار نه دې په جنت الفردوس کې سرفراز کړي. آمین.

**ډاکتر فضل رحیم مروت:**

لوی پښتون! ښاغلي کبیر ستوري صیب ته زه د یو لوی پښتون په سترګه ګورم،





ځکه چې هغه نه صرف د لر او بر پښتون درد په زړه کې وو، بلکې هغه د قلمي جهاد نه راواخله تر عملي جهاد (د تورې نه) پورې د پښتون قام د یووالي او ښېګړې دپاره کار کولو. هغه که نن زموږ په منځ کې نشته، خو د هغه قلم او فکر زموږ د لارې رهنما او لاربنود دی. خدای دې د ښکلیو جنتونو سردار کړي. آمین

**نوشېروان عادل:**

د ډاکتر کبیر ستوري د حق رسېدو په خبر یوازې زه نه، بلکې ټول پښتانه ډېر زیات خپه دي. خدای بښلی چې د پښتو ژبې، ادب، ثقافت او پښتون ولس د یووالي دپاره کومې هلې ځلې او قلمي ستړیا ګاللې ده، هغه به تر قیامته ټول پښتون ملت یاد ساتي.

**لایق زاده لایق:**

ځوك د ځان لپره مړ شي نوم یې ورك شي
د چـا مرګ د ټول ولس دپـاره مـرګ وي

**لیاقت سیماب:**

محترم ډاکتر کبیر ستوری هغه ځلانده "ستوری" دی، چې په ظاهره ورته زموږ لاس خو نه وررسي، خو ځلا به یې تل پښتو ادب او د پښتنو خاوره ځلوي.

د اروابښاد کبیر ستوري د مرګ خبر د ټولو پښتنو زړه دردولی دی، د ټول ملت حساس زړونه په دې درد دردېدلي دي، خو د صبر نه پرته بله هېڅ پېه نشته، چې دې درد ته ارام وبښي. زموږ دپاره او د محترم کبیر ستوري د کورنۍ دپاره په خصوصي توګه دا د ډېر فخر او ویاړ ځای دی، چې ډاکتر صیب د یو باضمیره شخصیت په توګه ددې فاني جهان نه رحلت وکړو. هغه ډېر په قدر، احترام او درناوي سره خپلې خاورې ته راورسولی شو. الله تعالی دې ډاکتر صیب ته جنت ورکړي او د هغه زیر او کړاوونه دې راتلونکي نسل دپاره د لارې مشال شي. آمین.

**سید صابر شاه صابر**

ایډیټر "دستار انټرنېشنل"

قدرمن کبیر ستوری د پښتو نوې میډیا لوی میر و. هغه په پردۍ خاوره کې خپله ژبه، خپل قوم ژړولو، د شرافت مجسمه وه، د پوهې سمندر و، ښه شاعر و، ښه پښتون پرور و او همدا ښه پښتون جوړېدل زما په نزد د ګمان لویه خبره ده. په ما مین و، زما د کړ و زیار قدردان و. الله پاك دې د هغه د پښتونولۍ صفتونه خاصیتونه د پښتون په نوي پود (نسل) کې کېږدي. آمین.

**فیروز اپریدی**

پاك پښتو ادبي ټولنه، دوحه. قطر

جنډه لوړه او رپانده ساتلې، په کولتوري، ادبي او ټولنيزه کچه يې درانه خدمتونه سرته رسولي، چې د لرې ـ برې پښتونخوا په تاريخ کې به ياد ساتلی شي.

**حرکت**

(دوه مياشتنی خپرونه، پرلپسې ۹ او ۱۰ ګڼه)

په ډېره خواشينی سره مو خبر ترلاسه کړ، چې د هېواد نامتو ليکوال، سياستوال او څېړونکي ډاکتر کبير ستوري له دې دنيا څخه سترګې پټې کړې.

انا لله و انا اليه راجعون

د "حرکت" ورځپانه د ډاکتر کبير ستوري مړينه د ټولو پښتنو دپاره يوه ستره او نه جبران کېدونکې ضايعه بولي او په دې اړه د هغه کورنۍ او ملګرو سره ځان په غم کې شريک ګڼي. ده ته د خدای ﷻ له دربار څخه د مغفرت او کورنۍ ته يې د صبر غوښتنه کوي.

روح دې يې ښاد وي.

## ډاکتر کبير ستوري له دنيا څخه سترګې پټې کړې

پښتون سياستوال او د پښتنو د ټولنيز ولسوليز ګوند مشر ډاکتر کبير ستوري له دې نيمګړې دنيا څخه سترګې پټې کړې.

که زما ستوري په قبر چېرته راغلې
په پښتو راته دعا کړه پرې مېنٌ يم

په خواشينی او خپګان سره مو واورېده، چې د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند مشر او نوميالی ليکوال ډاکتر کبير ستوري د ورپېښې ناروغی له امله د روان کال د اپريل په څلورمه د جرمني د کولن په ښار کې په حق ورسېد. انا لله و انا اليه راجعون

د هغه مړينه د پښتو ژبې او ادب لپاره يو ستر تاوان دی. پښتو ژبې او ادب لپاره به د ډاکتر کبير ستوري خدمتونه او کارونه تل ياد ساتلی شي.

د سباوون چلوونکې ډله د خدای بښلي ډاکتر کبير ستوري په مړينه د غمرازۍ او خپګان څرګندونه کوي او په دې غم کې د ټولو پښتنو او د ارواښاد له کورنۍ او ملګرو سره ځان شريک بولي. د لوی خدای له دربار نه ارواښاد کبير ستوري ته د جنتو هيله او کورنۍ او دوستانو ته ي د صبر او زغم غوښتنه کوي.

روح يې ښاد

**د سباوون چلوونکې ډله**



## په پېښور کې د

# ډاکتر کبير ستوري

## د لومړي تلين يادغونډه جوړه شوه

د پښتو نړيوال (عالمی) کانګرس له اړخه په پېښور پريس کلب کې په (۱۳، ۴، ۲۰۰۷) نېټه د جمعې په ورځ د مازيګر په څلورو بجو د هيواد د ملی، منلی سرېتوب (شخصيت) شاعر، ليکوال، ژورنالست، څيړونکی او ساپوه ډاکتر کبير ستوری د لومړی تلين پرتمينه غونډه او مشاعره جوړه شوه.




غونډه د قرانکريم د څو مبارکو اياتونو په تلاوت سره پرانستل شوه. د ستيج چاری ښاغلی ډاکتر عالم يوسفزي» سرته رسولی. د غونډی مشر ميلمه د (ANP) مرکزی مشر ښاغلی محمد افضل خان (خان لالا) وُ د کوربه په کرسی د پښتو عالمی کانګرس چيرمين پروفيسر ښاغلی جهانزيب نياز ناست و. ښاغلی ډاکتر محمد اعظم اعظم، ښاغلی سلطان محمد صابر، ميرمن معراج همايون، ښاغلی ډاکتر شيرزمان طائزی او ښاغلی بصير بيدار ستوری خصوصی ميلمانه وو.

په غونډه کې پير رحمدل شاه همدرد، ارباب دوست محمد خليل، سراج عارف، اسد خان، فريدون خان، ميا فاروق فراق، نثار خان، لايق زاده لايق،














ډاکتر سيد عالم محسود، ډاکتر فضل دين ختک، حشمت لودي، سليم بنګښ او نورو ګڼ شمېر ليکوالو، پوهانو، شاعرانو او ژورنالستانو ګډون کړی و.

د غونډی په پيل کې د اريانا پوهنتون مرستيال پروفيسر انور ظفری د ارواښاد ستوری په شخصی، سياسی او ادبی ژوند او هلو ځلو پوره رڼا واچوله او د هغه وخت يو څو خاطری يی هم له ګډونوالو سره شريکی کړی کومی چې هغه د ارواښاد ستوری سره په جرمنی کې تيری کړی وی همداراز ايډوکيټ ښاغلی قيصر خان، پروفسر ډاکتر شاجهان سيد، ښاغلی معظم خان معظم، ښاغلی ډاکتر شيرزمان طائزی، د پښتونخوا ملی عوامی پارټی صوبائی صدر ښاغلی مختار





يوسفزی، پروفيسر جهانزيب نياز او د پښتون قامی وحدت لاربنود ښاغلی محمد افضل خان (خان لالا) د ارواښاد ستوری په ژوند، مبارزه او سرېتوب (شخصيت) هر اړخيزه رڼا واچوله او مقالی ئې ولوستلی. د وينا ګانو په منځ منځ کې ښاغلی ارشد شاهکار، ښاغلی عرفان الله کوتوال، ښاغلی عبدالرحمن لوګی، ښاغلی شهاب الدين ختک، خپل شعرونه حاضرينو ته واورول ورپسی د پښتو د ستر ليکوال او شاعر ارواښاد ډاکتر صاحب شاه «صابر» روح ته په ګډه سره دوعا وشوه.

د پښتو عالمی کانګرس له خوا پښتو ژبی او ادب ته د نه هيريدونکو خدمتنو په اعتراف کې پروفيسر جهانزيب نياز ته د «ستوری ايوارډ» ورکړل شو، همداراز د دانش خپروندويی ټولنی مشر ښاغلی اسدالله دانش ساپی ته د «ستوری ايوارډ» او د وحدت ورځپانی جائنټ ايډيټر ښاغلی پير رحمدل



شاه همدرد ته «ستوری ايوارډ» ورکړل شو.

د ارواښاد ستوری د لومړی تلين په ياد دانش خپرندويی ټولنی يو شمير کتابونه چاپ کړی وو، په همدی ورځ د وحدت ورځپانی، خبرونه ورځپانی او پاکستان ورځپانی خپلی خپلی خصوصی (ځانګړی) ګڼی نشر کړی وی.

د غونډې دوهمه برخه آزادې مشاعرې ته ځانګړې شوې وه، د ستېج

چارې يې ښاغلي حميدالرحمن نادان ترسره کولې ښاغلی ودود اشنغری،



ښاغلی خيال اکبر اپريدی، ميرمن شگفته، ښاغلی گل محمد مسرور اوښاغلی نصير ستوری خصوصی ميلمانه او پروفيسر جهانزيب نياز کوربه و.

په مشاعره کې: ډاکتر جهانزيب نياز، احمد علي عاجز، اکبر علي فقير، فهيم بنگش، غلام محمود شهاب، گلزاده کوثر، قابل شاه لپونی، زاهد خان زاهد، امجد علي خادم، خان باتور، شهاب الدين خټك، گل محمد مسرور، جمشيد مومند، شبير دراني، ميا فاروق فراق، ارشد خان شاهکار، معظم خان معظم، عبدالحليم حليم، اختر منير منير، شاه احمد ښکاري، حاجي کندهار اپريدی، حيات روغاني، ودود اشنغري، عرفان الله کوټوال، شفيع الله زهير، خورشيد ثاقب، امين غفار امين، محمد عمر مهر، محمد همايون هما، سيد کمال کمال، محمد سعيد راحت، خالد امين غازي، شهاب بنوڅی، فدا محمد مجبور، محمد جبار جبار، محمد عالم عالم، ډاکتر فضل دين خټك، اقبال حسين افگار، سيد رسول ناڅاپه او ډاکتر ياسين خليل خپل کلامونه واورول.

غونډه او مشاعره د شپې په نهو بجو پای ته ورسيده.





۲/۷/۱۹۸۵

## د اروابناد ستوري

## د ليکونو له منځ څخه يو څو ليکونه

**گران او ډېر محترم ملگري واکمن صاحب ته خپل د زړه د کومي سلامونه وړاندې کوم.**

هيله ده، چې روغ جوړ اوسې. ستاسو محترم ليك ماته ډېر پخوا رارسېدلی دی؛ خو دا چې تر اوسه پورې مې جواب نه دی درکړی علت يې زما ناروغي او د ډوکتورې ازموينه وه. هيله ده، چې دروند ملگری ما په دې برخه کې وبخښي.

زړه په زړه پوهېږي، تاسې تل زما په زړه کې ځای لرلو او لرئ. ستاسو د کتاب دپاره ما ملگرو ته وويل او ملگری شاه جهان موظف شو، چې په ډېره پيمانه راوغواړي. دا چې تاسې د بل کتاب د ليکلو نيت هم لرئ ډېر د خوشحالی ځای دی او د افغان اولس دپاره تر ټولو ستر خدمت دی. ستاسې گوندي ملگري زمونږ خپل ملگري دي دا سمه ده، چې د نظر يو اختلاف به څه ناڅه وي؛ خو د لاس په پينځو گوتو کې هم توپير شته دی او ټول يوه دنده اجرا کوي. زمونږ گوندي چارې ورو ورو مخ په وړاندې رواني او منظمې کېږي وروسته له دې به يو څه گړندی مخ په وړاندې لاړې شي ډاډه اوسئ.

زه به په بل ليك کې مفصل احوال وليکم. هيله ده، چې ټولو ملگرو ته زما سلامونه او احترام وړاندې کړئ.

په يو والي او برې.

**دروند مشر خان بابا عبدالولي خان ته!**

د اسيا د سولې رڼا او د پښتنو د آزادی او سوکالی اتل باچا





خان بابا مرگ نه يوازې د پښتون اولس دپاره؛ بلکې په سيمه کې د ټولو آزادی غوښتونکيو او سوله خوښوونکيو اولسونو او مترقي ځواکونو دپاره نه رغېدونکی ستر تاوان دی.

د پښتنو سوسيال ديموکراتيك گوند د خپل سياسي پلار په مړينې په بهر کې د ټولو پښتنو سره يو ځای د خپل اولس او مشرانو سره په دې غم کې شريك دی او د خدای بخښلي بابا باچا خان روح ته دعا کوي.

ځنگه، چې د فخر افغان خاورو ته د سپارلو نېټې ته زمونږ د گوند ډلگه گی د وخت د کموالي له کبله در رسېدلی نه شي؛ نو مونږ پرېکړه وکړه، چې په راتلونکې اونی کې په کولن کې (۱۹۸۸/۱/۳۰) د خپل بابا فاتحه واخلو.

دوکتور کبير ستوری

کولن ۱۹۸۸/۱/۲۰

**کولن ـ ۱۹۸۹/۱۰/۱۱**

د پېښور د پوهنتون د پښتون ستوډنټس صدر ښاغلي طارق دراني ته گېډی گېډی سلامونه او پېرزوينې وړاندې کوو.

گرانه طارق درانی ستا د مينې ډك ليك راورسېدو زيات خوشحاله شو. هيله ده، چې تل مونږ سره خپل قلمي اړيکې ټينگ وساتي.

ستاسې د غوښتنې سره سمه مو د پښتونخوا اخرنی پخوانی گڼه او زمونږ د گوند منشور درولېږه د پښتونخوا نوې گڼه د چاپ لاندې ده، چې چاپ شوه در وبه لېږل شي.

که تاسې ملگري پښتونخوا ته خپل مضمونونه او مقالې راولېږلی شئ؛ نو دا به د پښتنو د يو والي او آزادی ولولې تودې کړي او ذهني اوښتون (انقلاب) به د قامي خپلواکی او سوکالی





دپاره گړندی کړي. په درناوي

ډوکتور کبير ستوری

د پښتنو د ټولنيز ولسوليز گوند مشر

**کولن ـ ۱۹۹۰/۱/۲**

د پښتنو د ټولنيز ولسوليز گوند (پښتون سوشل ډيموکراتيك پارټي) له خوا په برمنگهم کې د پښتون انجمن بنسټ اېښودونکو ته.

**گرانې خورې زوېا اباده اوسې!**

ستاسې ليك، چې د پښتون انجمن اغراض او مقاصد ورسره مل وو راورسېد. مونږ د پښتون انجمن اغراض او مقاصد د باچا خان د دوهم تلين په مناسبت غونډه کې، چې د پښتنو د ټولنيز ولسوليز گوند له خوا د روان عيسوي کال د جنوري د مياشتې په شلمه نېټه د فرانکفورت په ښار کې جوړه شوې وه او په لويديځ جرمني کې گڼ شمېر پښتنو پکې گډون کړی و ولوست او ټولو پرې د لاسونو په ټکولو سره د خوشحالی ولولې ښکاره کړې.

د پښتنو ټولنيز ولسوليز گوند ستاسو ددغې نېکې ارادې، چې د پښتون انجمن جوړوي نه يوازې هرکلی کوي؛ بلکې د پښتنو د يو والي او د پښتونخوا د ابادی او سوکالی په لاره کې يو ستر گام گڼي او په دې لاره ستاسو بری غواړي.

ستاسې د بلنې څخه، چې مونږ ته مو د پښتون انجمن د بنسټ اېښودلو په غونډه کې د گډون دپاره راکړې ده د زړه د کومې خوښنه کوو او ډاډ درکوو، چې زمونږ د گوند يوه ډلگه گی به په غونډه کې د برخې اخيستلو دپاره برمنگهم ته درشي.

په درناوي

ډوکتور کبير ستوری، د پښتنو د ټولنيز ولسوليز گوند مشر

**۱۴/۱۲/۱۹۹۵**

**خان لالا ته د ډاکتر کبیر ستوري یو لیک**

خپل عزتمند مشر خان لالاصاحب محمد افضل خان ته د زړه د کومي سلامونه وړاندې کوم.

مونږ تر دې ګړی پورې روغ جوړ یو او ستاسې د خوښی او روغتیا په ارزو یو.

قدرمنه مشره! د نړی په اوسني سیاسي پړاو کې د پښتنو یو والی تاریخي ضرورت دی او په دې لاره کې عملي ګامونه اخیستل پکار دي؛ خو د عملي ګامونو دپاره ګډ بنسټ ناسوب دی. دا ځکه چې پښتانه په عمل کې په درې برخو وېشل شوي دي او یوه برخه یې د ټول پښتون دپاره پرېکړه او فیصله کولی نه شي. داسې یو ګډ بنسټ د پښتنو د یو والي دپاره پیدا کېدلی شي کله چې سړی د مرکزي اسیا یا د مرکزي جنوبي اسیا د ګډ بازار نظریه رامخته کړي، چې پاکستان، افغانستان، تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان پکې شامل دي.

په دې توګه که سړی د پښتون نوم یاد کړي او که نه پخپله د ګډ بازار په چوکاټ کې سره یو ځای کېدلی شي. د ګډ بازار د نظریې په عمل کې د پلي کولو دپاره د مرکزي اسیا او یا مرکزي جنوبي اسیا د ډیموکراتیکو ځواکونو او ګوندونو اتحاد پکار دی. مطلب د مرکزي اسیا او یا مرکزي جنوبي اسیا د ګډ بازار د ملکونو ډیموکراتیک ګوندونه هم په یوه اتحاد کې راغونډول ضوري دي تر څو چې نه یوازې د هېوادونو د حکومتونو په چوکاټ؛ بلکې د ګوندونو په چوکاټ کې هم د مرکزي اسیا یا د مرکزي جنوبي اسیا د ګډ بازار دپاره کار وشي.

قدرمنه خان لالا! زما په عقیده د پښتنو د یو والي دپاره سړی د مرکزي اسیا یا د مرکزي جنوبي اسیا د ګډ بازار د ټولنې د





نظریې په چوکاټ کې ډېر کار کولی شي. زه چې د ځینو ملګرو سره پدې نظرېه ګړېدلم هغوی تایید کړې ده، ستا محترم ځخه مخکې له دې ځخه چې زمونږ د ګوند په چوکاټ کې ورته د یوه سیمینار په شکل کې کار وشي هم د سلا هیله مند یم. په پای کې خپل ډېر سلامونه ټولو ملګرو ته رسوم. ماته که څه امر خدمت وي ویې کړئ.

کبیر ستوري
ستاسو کشر

**جرمني_ ۲۰۰/۸/۲۳**

**عزتمند ملګري دوکتور راج ولي شاه خټک ته!**

د زړه له کومي سلامونه!

ستاسې د پېرزوینې ځخه، چې زما کتاب "د هوښیارتیا تله" مو د سریزې په لیکلو سره درنه کړې ده ډېره ډېره مننه، ستاسې ددې زرین لیک یاد به نه یوازې زما په زړه کې تلپاتې وي؛ بلکې د هغو کسانو سوچونه به هم سم کړي، چې وایي لر او بر پښتانه بېلې ژبې وایي او یو د بل په ژبه نه پوهېږي.

له دې کبله زه د لرې پښتونخوا ملګرو ته تکلیف ورکوم، چې زما په لیکنو څه ولیکي، تر څو چې دا احساس خلکو ته ورکړي، چې د پښتون قام ژبه وېشل شوې نه ده. یوه ژبه لري او ټول پرې پوهېږي. محلي توپیرونه په هره ژبه کې شته دی؛ خو دا وېش مانا نه لري.

په پای کې یو ځل بیا ډېره ډېره مننه.
ټولو ملګروته سلامونه.
په درناوي
کبیر ستوری





**جرمني_ ۲۰۰/۸/۱۸**

د عالمي پښتو کانفرانس چېرمېن ملګري سلیم راز صاحب ته ګېډی ګېډی سلامونه!

د دویم عالمي پښتو کانفرانس پانې مونږ ته په بلجېم کې زمونږ د ملګري عابد علي خان په لاس راورسېدې. مونږ هغه پانې ډېرې کړې او د پښتون سوشل ډیموکریټیک ګوند (PSDP) د غړو په یوه غونډه کې مو ملګرو ته ووېشلې او په دې توګه په بهر کې ډېر پښتانه ستاسې ددې نېک ګام، چې د عالمي پښتو کانفرنس تابیا مو کړې ده خبر شو.

زه خپله او زمونږ د ګوند د مشرانو جرګه او د ګوند نور ملګري ستاسې ددې پیاوړې ګام، چې د پښتو خدمت ته مو ملا تړلې ده د زړه له کومي هرکلی او درناوی کوو په تېره بیا د کانفرنس هدفونه او مقاصد، چې تاسې را په ګوته کړي دي د وخت ضرورت دی.

مونږ د پښتنو/ افغانانو جرګې ته، چې د قدرمن مشر خان لالا محمد افضل خان له خوا په پېښور کې د نومبر په ۱۴ او ۱۵ نېټه راغوښتل شوې ده د درتللو نیت کړی دی.

اوس په غیري رسمي توګه خبر شو، چې عالمي پښتو کانفرنس د روان کال د نومبر د میاشتې په درېیمه نېټه جوړېږي که دا خبره سمه وي؛ نو مونږ خامخا ددې هڅه کوو، چې مخکې درشو او په پښتو عالمي کانفرنس کې برخه واخلو.

په بري، ستاسو ملګری
ډوکتور کبیر ستوری

**د هدف لپاره لارې لټوئ؛ خو د لارې لپاره هدف مه بدلوئ**

**(ستوری)**





**Wesseling, den 15/02/2006**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت محترم جمهور رئیس حامد کرزي صیب ته سلامونه!**

عزتمنده! ددې لیک په واسطه زه ستاسې پام په لنډو تورو سره د وخت یو څو ضرورتونو ته را اړوم:

۱_ په بهر کې په تېره بیا په لویدیزو هېوادونو کې زمونږ راتلونکی نسل او ماشومان عربي لیک دود زده کولی نه شي؛ خو پښتو په لاتیني یا رومي تورو په اسانی سره لیکلی او لوستلی شي. همدا شان په انټرنیټ (Internet) او نورو تخنیکي چارو کې پښتو په لاتیني تورو پکاروي؛ خو مونږ په لاتیني یا رومي تورو عمومي منل شوی لیکدود نه لرو او حتی د خپل قام پښتون نوم یو شان نه شو لیکلی او هر څوک یې په بېله بېله بڼه لیکي. له دې کبله د پېښور د پښتو اکاډمی او د کابل د علومو د اکاډمی یوه ګډه جرګه ګی پکار ده، چې د پښتو په لاتیني تورو کار وکړي او بیا وروسته د عربي لیک په څوا کې په لومړنیو ښوونځیو کې رواج شي. په دې توګه به په بهر کې زمونږ راتلونکی نسل، چې ډېر پوهان او مسلکي کسان پکې شته دي، کله چې خپل هېواد ته ځي ځان به بې سواده او پردی نه حس کوي او هم به د تخنیکي پوهې جوګه شو.

۲_ د افغانستان ځخه پاکستان ته د جګړې له کبله د کډې کولو په لړ کې ډېر پښتانه دوه کوره شوي دي؛ خو دوی په پاکستان کې د خپلو حقوقو ځخه بې برخې دي، چې ځمکه پخپل نوم واخلي او یا بل څه کاروبار پیل کړي، له دې کبله پښتنو ته لکه د فرانسې او جرمنې په شان د ډبل تابعیت (شهریت) امکانات ورکول او هم د تجارت او تګ راتګ آزادي، چې هر پښتون بې د کاغذونو تګ راتګ وکړي د وخت اړتیا ده.

په درنښت
ډاکتر کبیر ستوری
د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند مشر

# ستوری فنا شو

( د کبیر ستوري په مړینه)

**لایق زاده لایق**

د محبت د ښاپستونو د اسمان ستوری
لاړو فنا شو د ادب د ګلستان ستوری
چا چې هستي د پښتونخوا شملو ته وبښله
چا چې د عمر هره ساه پښتو ته ته وبښله
چا چې ځواني د خپل ولس سلګو ته وبښله
هاغه د ژوند د عظمتونو د کاروان ستوری
لاړو فنا شو د ادب د ګلستان ستوری
چې یې د فکر ازادي له خپله ژبه ورکړه
چا چې د ذهن بېداري له خپله ژبه ورکړه
چا چې بې نومه خپلواکي له خپله ژبه ورکړه
هغه د ذات په دنیاګۍ کې دبستان ستوری
لاړو فنا شو د ادب د ګلستان ستوری
چا چې د لر و بر جذبو ته کړو منزل په ګوته
چا چې خودسره پښتنو ته کړو منزل په ګوته
چا چې بې لارې لارو ته کړه منزل په ګوته
هاغه د خیال د تعبیرونو قدردان ستوری
لاړو فنا شو د ادب د ګلستان ستوری
د چا قلم به چې قیصه د محبت لیکله
د چا احساس به چې نغمه د صداقت لیکله
د چا شعور به چې تپه د حرکت لیکله
د خپل ولس د ارمانونو په ارمان ستوری
لاړو فنا شو د ادب د ګلستان ستوری
که ستوری نشته خو رڼا یې هره خوا خوره ده
لکه وږمه د لر و بر په پښتونخوا خوره ده
لایقه مینه یې د زړونو په دنیا خوره ده
هاغه د سوچ د محلونو د دوران ستوری
لاړو فنا شو د ادب د ګلستان ستوری





## عرفان الله کوتوال کونړی

چېرته له مانه غورځېدلی دی هر لوری ګورم
د ستورو لړ مې شوکېدلی دی ورک ستوری ګور.
ژر ژر مې وګوره فالګره د ورغوي کتاب
چېرته دمه ږدمه د هسکې شملې سیوری ګورم
هېر مې لا نه دي د میوند ستوري مې نه هېرېږي
د چا سپرلی د چا د ژوند ستوری مې نه هېرېږي
د پښتنو د پیوستون هغه ژوندۍ خاطره
د لر او برو د پیوند ستوری مې نه هېرېږي
هغه شغله چې هرې خوا ته یې لاسونه وهل
د افق لاسو کې د خوند ستوری مې نه هېرېږي
د تورو شپو د سپین سهر د سپینې غاړې سینګار
لکه الماس په تاج کې بند ستوری مې نه هېرېږي
لکه مجنون یې د خپل عشق کیسه اسمان ته یووړه
په پښتنو مېن د پند ستوری مې نه هېرېږي
چا چې خواږه د مینې ورکړه د پښتو ناوې ته
په ګردو ژبو کې د قند ستوری مې نه هېرېږي
په کومه مینه چې کوتواله څوک له سا نه تېر و
هغه پتنګ، پتنګ سربند ستوری مې نه هېرېږي

❋ ❋ ❋

**سیاسي واکمن که پښتانه شي پښتو کانډي، د سرکار ژبه هم د ښوونځي، هم د دفتر، هم د خپل کار ژبه بیا به پوهان او امیان حس کړي ضرورت د پښتو پښتو به شي بیا د پوهنې، تجارت او د روزګار ژبه**

**"ستوری"**





# ډاکتر کبیر ستوري «ژوند او مبارزه»

## کتاب له چاپه راووت




دغه کتاب په پښتو ژبه په ښکلي بڼه (۵۲۴) مخونو کې چې لر او بر پښتنو ... کوالانو، شاعرانو، ادیبانو، قومي مشرانو، هنرمندانو، او عامو وګړو ... کې خپل تاثرات، مقالې او شعرونه لیکلي او په پېښور کې د پښتونخوا د پوهنې د دېرې لخوا خپور او د پښتو ژبې پیاوړي شاعر، لیکوال، افسانه لیکونکي، او د کوهاټ د راډیو مشر ښاغلي لایق زاده لایق ترتیب کړی دی چې د چاپ چارې ئې دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه - پېښور، ترسره کړي له چاپه راووت چې پکې د ارواښاد ډاکتر کبیر ستوري د سیاسي او ادبي اړیکو هلوځلو په اړوند پوره او په زړه پوري مالوت راټول شوي دي. دغه کتاب په څلور برخو ویشل شوی دی.

۱ ــ لیکنو هینداره، ۲ ــ قلم او ښکلي، ۳ ــ د ستوري په نوم د غمرازۍ او خواخوږۍ پیغمونه، ۴ ــ پېروزینې (شعرونه) او په اخر د کتاب کې د ارواښاد ډاکتر کبیر ستوري تصویرونه شامل دي.

## د ارواښاد ډاکتر کبیر ستوری کلیات چاپ شول




د ارواښاد ډاکتر کبیر ستوری د شعرونو کلیات چې په پښتو ژبه په ښکلي بڼه د پښتونخوا د پوهنې دېرې ــ پېښور / پښتونخوا په همت خپور او د چاپ چار... ي دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه - پېښور، ترسره کړي چې پکې د ... د ستوري ټولې شعري ټولګې او ... شعرونه راټول شوي دي د پښتو ژبې او ادب مینه والو ته وړاندې کیږي.






**که سپوره وي، که پوره په شریکه به وي. (باچا خان)**

**Das brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt. (Batscha Chan)**

***Buttered or unbuttered bread will be common. (Bacha Khan)***



**د هدف لپارې لارې لټوئ، خو د لارې لپاره هدف مه بدلوئ.**

**(ستوری)**